
# حج و عمره

## قدم په قدم

حج او دَ عمرې مستند احکاماتو باندې مشتمل عام فهم کتاب

اهم تصویرونو او نقشو سره




مرتب

مولانا مفتی مُحَمَّد ایاز درّانی

صاحب حفظه الله



العلم پبلیکیشنز

# حج

# قدم بہ قدم

ابو معاویہ مولانا مفتی محمد ایاز حفظہ اللہ

العلم پبلیکیشنز محلہ جنگی پشاور

091-2590315

# فهرست مضامين

دحج و عمرې اهميت او فضيلت........................................1
دحج فائدې........................................................6
دحج د سفرنوعيت : ..................................................7
دنيکۍ او تقوئ رغبت:.................................................8
احرام او ددې شرائط:.................................................9
تلبيه: ..........................................................10
د کعبې طواف : ...................................................12
د صفا و مروه سعي ..................................................12
وقوفِ د منیٰ، عرفات او مزدلفې: ........................................13
رَمی د جمار:.......................................................13
دحج برکات و اثرات :................................................14
حج يو اجتماعی عبادت : ............................................15
د حج شرائط.......................................................17
اولني شرط:........................................................17
دويم شرط :.......................................................17
دريم شرط :.......................................................17
څلورم شرط :......................................................17
پنځم شرط : .......................................................17
مسئله : ..........................................................18

شپږم شرط : ........................................................ 18
اووم شرط : ........................................................ 19
د حج مختصر احکام ................................................ 20
دحج درې فرائض:.................................................. 20
دحج شپږ واجبات: ................................................ 20
دحج کی قسمونه: ................................................ 20
د حج میاشتې:.................................................... 20
د حج ورځ : ........................................................ 21
د طواف قسمونه : ................................................ 21
د وقوف اقسام: ................................................... 21
په عمره او حج کښې ممنوع کارونه : ......................... 21
د حج او عمرې مسنون دعاګانې ................................ 22
تلبیه: ............................................................. 22
دحجر اسود د استلام په وخت : ............................... 22
د طواف په دوران کښې:........................................ 22
په رکن یمانی باندې: ............................................ 22
د رکن یمانی او حجر اسود په مینځ کښې: ................... 22
دسعی په دوران کښې:........................................... 22
د زمزم څکلو په وخت : ......................................... 23
د شیطانانو په کاڼرو د ویشتلو په وخت : ................... 23
یوه جامع دعاء: .................................................. 23

په څه ځاې داسې هم دعا کوئ: ........................................ 23
اجمالی خاکه ........................................................ 24
د حج پنځه ورځې ..................................................... 24
دحج اوله ورځ : ...................................................... 24
د حج دويمه ورځ :.................................................... 24
د حج دريمه ورځ :.................................................... 24
د حج څلورمه ورځ : .................................................. 25
د حج پنځمه ورځ : ................................................... 25
شپږمه ورځ (اختيارى) : .............................................. 26
طوافِ وداع: .......................................................... 26
دحج تفصيل........................................................... 27
قدم به قدم............................................................ 27
۸ذِی الحجه (دحج اولنې ورځ)......................................... 27
دحج و احرام تياری:................................................... 27
احرام، نفل، نيت اور تلبيه: ............................................ 27
دمنیٰ روانګی: ......................................................... 28
په منیٰ كښې : ......................................................... 28
۹ذِی الحجه (دحج دويمه ورځ) ........................................ 29
عرفات ته روانګی:..................................................... 29
عرفات ته رسيدو سره : ............................................... 29
وقوفِ عرفات : ....................................................... 29

د ماسپخين او مازيګر مونځ :........................................30
مزدلفې ته روانګی :........................................30
دماښام او ماسخوتن مونځ :........................................30
ذکر و دعاء:........................................31
۱۰ذِی الحجه (دحج دريمه ورځ)........................................31
د سحر مونځ او وقوف:........................................31
کانړی :........................................31
منی ته واپسی:........................................31
وادی محسر:........................................32
دجمرهٔ عقبه رمی:........................................32
تلبيه بند:........................................32
قربانی:........................................33
حلق يا قصر:........................................34
طوافِ زيارت :........................................34
د طوافِ زيارت وخت :........................................35
دطوافِ زيارت طريقه :........................................35
سعی:........................................36
مسئله :........................................36
د ښځو يو ه مسئله :........................................36
۱۱ذِی الحجه (دحج څلورمه ورځ)........................................37
دجمراتو رمی :........................................37

دعاء: ........................................ 37
۱۲ذِی الحجه (دحج پنځمه ورځ) ........................................ 37
د جمراتو رَمی: ........................................ 37
په ۱۳ذِی الحجه، دقیام اختیار او رَمی ........................................ 37
د رمی متعلق یوه فتویٰ: ........................................ 38
دمکې معظمې قیام : ........................................ 38
طوافِ وداع: ........................................ 39
مسئله : ........................................ 40
د مدینې منورې زیارت ........................................ 41
د مدینې منورې د حاضرئ آداب : ........................................ 41
په مسجد نبوی ﷺ کښې حاضری : ........................................ 42
"روضة الجنة" کښې نفل : ........................................ 43
"روضه مطهره" باندې حاضری: ........................................ 43
په سیدنا ابوبکر ........................................ 44
په سیدنا عمر ........................................ 44
دعا: ........................................ 44
د"مدینې منورې" په قیام کښې : ........................................ 45
د مدینې منورې څو مقامات ........................................ 46
جنة البقیع: ........................................ 46
مسجدِ قبا: ........................................ 46
د اُحد غر : ........................................ 46

مديني طيبې ته واپسی :........................................... 47
آخری سلام:............................................ 48
د سفرِ حج ضروری سامان ........................................ 49
ضروری هدایات ............................................... 51
دمکې مکرمې نه منیٰ ته د اوړلو د سامان فهرست.............................. 54

# دحج و عمرې اهميت او فضيلت

حج د اسلام په پنځوارکانو کښې يو اهم رکن دې د اللّٰه تعالى ارشاددې :

(۱) وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا ؕ وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِىٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ۔ [آل عمران : ۹۷]

"د اللّٰه تعالى دپاره دخلقو په ذمه ددې کور(بيت الله) حج کول (فرض) دې (خو دټولو په ذمه نه خاص) په هغه کس باندې چه ددې کوره پورې د راتلو طاقت لرى،او کوم سړې چه (داحکام خداوندى ) منکر وى نو (هغه خپل نقصان کوى) اللّٰه تعالى خو دټول حج والو نه بې نيازه د ې"۔

(۲) وَاَذِّنْ فِى النَّاسِ بِالْحَجِّ يَاْتُوْكَ رِجَالًا وَّعَلٰى كُلِّ ضَامِرٍ يَّاْتِيْنَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيْقٍ لِّيَشْهَدُوْا مَنَافِعَ لَهُمْ ۔ [سورۂ حج:۲۷]

" او په خلقو کښې دحج ( دفرض کيدو) اعلان اوکړه (په دې اعلان سره) به خلق تاته(يعنى دې مقدس عمارت ته) راځى پيدل هم او (د اوږد سفر په وجه سره په کمزور شوې ) اوښانو باندې هم چه په لرې لرې لارو باندې به راځى، دې دپاره چه دا راتلونکى دخپلو فائدو دپاره حاضرشى"۔

☆ د نبى کريم ﷺ ارشاد دې:

بُنِيَ الْاِسْلَامُ عَلٰى خَمْسٍ، شَهَادَةُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ وَاِقَامِ الصَّلَاةِ، وَاِيْتَاءِ الزَّكٰوةِ وَحَجِّ الْبَيْتِ وَصَوْمِ رَمَضَانَ

"د اسلام بنياد په پنځو څيزونو باندې دې":

۱۔ ددې خبرې ګواهى ورکول چه دالله نه سيوا بل څوک معبود نشته او محمد ﷺ دهغه بنده او رسول دې.

او

۲۔ مونځ کول او ۳۔ زکوٰۃ ورکول او

۴۔ د بیت الله حج کول او ۵۔د رمضان روژې نیول [بخاری ومسلم]

☆ د رسول الله ﷺ ارشاد مبارک دې:

اې خلقو! په تاسو باندې حج فرض کړې شوې دې، په دې وجه تاسو حج اوکړئ ۔[مسلم شریف]

په احادیثو کښې دحج دومره ډیر فضائل ذکر شوې دی چه دهغې اوریدو سره هیڅ یو مسلمان هم د حج په ادا کولو کښې به کمې او دتاخیر کولو همت نه شی کولې۔ د حج په وجه سره چه دالله تعالی دطرف نه چه کومه بخښنه ، د دوزخ نه آزادی، د الله تعالی رضا حاصلیدل، د درجاتو اوچتیدل او بې شماره اجروثواب ملاویږی په حج کښې کمې او کوتاهی کولو والا په یو فرض حکم کښې دګناه سره سره ددې بې شماره فضائلو نه هم محرومیږی ۔

☆ سیدنا ابوهریره رضی اللہ عنہ فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلې دی :

مَنْ حَجَّ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمٍ وَّلَدَتْهُ أُمُّهُ۔[بخاری ومسلم]

"چه کوم سړی حج اوکړو او په دې کښې نه څه د فحش خبرې ارتکاب اوکړو او نه ئې دالله نافرمانی اوکړه نو هغه دګناهونو نه داسې پاک وصفا کیدو سره به واپس شی څنګه چه په هغه ورځ وو په کومه ورځ ئې د مور نه زیږیدلې وو" ۔

☆ دغه شان سیدنا ابوهریره رضی اللہ عنہ د نبی کریم ﷺ نه روایت کوی چه :

اَلْعُمْرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِّمَا بَيْنَهُمَا وَالْحَجُّ الْمَبْرُوْرُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلَّا

الْجَنَّةَ۔ [مشکوۃ:ص۲۲۱]

"یوه عمره دبلې عمرې پورې دګناهونو کفاره کيږی او د حج مبرور (دګناهونو نه پاک او مخلصانه حج) بدله خو بس جنت دې"۔

عَنْ وَهْب بنِ خَنْبَشٍ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم : عُمْرَةٌ فى رَمَضَانَ تَعْدِلُ حَجَّةً۔

"په رمضان کښې دکړې شوې عمرې ثواب دحج برابر دې"۔

* سیدنا ابومسعود رضی اللہ عنہ د نبی علیه السلام نه نقل کوی چه :

تَابِعُوْا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ فَاِنَّهُمَا يَنْفِيَانِ الْفَقْرَ وَالذُّنُوْبَ كَمَا يَنْفِى الْكِيْرُ خُبْثَ الْحَدِيْدِ وَالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ، وَلَيْسَ لِلْحَجِّ الْمَبْرُوْرِ ثَوَابٌ اِلَّا الْجَنَّةَ۔ [ترمذی]

"حج اوعمرې یوبل پسې کوئ ځکه چه دا دوانړه غریبی او محتاجی او ګناهونو لره داسې لرې کوی څنګه چه د زرګر بھټئ د اوسپنې او سره زرو او سپینو زرو نه خیرې لرې کوی او د حج مبرور صله خو بس هم جنت دې"۔

☆ د نبی علیه السلام نه ابوهریره رضی اللہ عنہ روایت کوی چه :

اَلْحَاجُّ وَالْعُمَّارُ وَفْدُ اللّٰهِ، اِن دَعَوْهُ اَجَابَهُمْ وَاِنِ اسْتَغْفِرُوْهُ غَفَرَ لَهُمْ۔[ابن ماجہ]

"حج او عمره کونکی دالله تعالی میلمانه دی کچرې هغوی دالله تعالی نه دعا اوکړی نو الله تعالی دهغوی دعا قبلوی او کچرې هغوی دهغه نه بخښنه اوغواړی نو د هغوی بخښنه کوی"۔

☆ سیدناعبدالله ابن عمر رضی اللہ عنہ دنبی کریم صلی اللہ علیہ وسلم نه نقل کوی چه :

اِذَا لَقِيْتَ الْحَاجَّ فَسَلِّمْ عَلَيْه وَصَافِحهُ وَمُرْهُ اَنْ يَسْتَغْفِرَلَـكَ قَبْلَ اَنْ يَّدْخُلَ بَيْتَهٗ فَاِنَّهٗ مَغْفُوْرٌ لَهٗ۔ [مسند احمد]

”کله چه دچا حج کونکی سره ستاسو ملاقات اوشی نو هغه ته دهغه کورته د رسیدو نه مخکښې سلام اوکړه،مصافحه اوکړه او هغه ته دبخښنې ددعاء دپاره اووایه،ځکه چه په داسې حال کښې دې چه دهغه دګناهونو فیصله شوې ده“۔ (په دې چه دهغه ددعا قبلیدو خاص توقع شته دې)

☆ سیدعلی رضی اللہ عنہ د نبی کریم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم نه روایت کوی چه :

**مَنْ مَّلَکَ زَادًا وَرَاحِلَةً تَبْلُغُهُ اِلٰی بَیْتِ اللّٰہِ وَلَمْ یَحُجَّ فَلَا عَلَیْہِ اَنْ یَّمُوْتَ یَھُوْدِیًّا اَوْ نَصْرَانِیًّا وَذٰلِکَ اَنَّ اللّٰہَ تَبَارَکَ وَتَعَالٰی یَقُوْلُ:وَلِلّٰہِ عَلَی النَّاسِ حِجُّ الْبَیْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَیْہِ سَبِیْلًا۔**

”چه دچا سره دحج دسفر سامان وی او هغه سره دسورلۍ سهولت هم وی چه بیت الله پورې ئې رسولې شی اوبیاهم هغه حج نه کوی نو څه فرق نشته چه هغه یهودی کیدو سره مری یا نصرانی کیدو سره او دا په دې وجه چه د الله تعالی ارشاد دې چه دالله تعالی دپاره دبیت الله حج فرض د ې په هغه خلقو باندې چه هغې ته دتللو طاقت لری“۔

او ددې آیت تفسیر سیدنا عمر رضی اللہ عنہ کړې دې چه کله هغوی ته اوئیلې شو ”چه کوم خلق د قدرت باوجود حج نه کوی نوهغوی اوفرمائیل چه زما زړه غواړی چه په هغوی باندې جزیه اولګوم هغه مسلمان نه دې، هغه مسلمان نه دې“ ۔

د الله تعالی ددې فرمان او د رسول الله صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم او دخلیفه رسول صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ددې تشریح نه به تاسوته اندازه شوې وی چه هیڅ یو داسې فرض نشته دې چه زړه دې اوغواړی نو ادا ئې کړه او نه غواړی نو روستو ئې کړه بلکه دایو داسې فرض دې چه په هر هغه مسلمان چه

کعبې ته دتلو راتلو خرڅ لری او په لاس خپو معذوره نه وی، په عمر کښې یو ځل دې لره لازمًا ادا کول پکاردی ـ خواه هغه ددنیا په کوم یو ګوټ کښې وی خواه په هغه باندې دبال بچ او دخپل کاروبار یا ملازمت وغیره څنګه هم ذمه دارياني وی ـ چه کوم خلق د قدرت لرلو باوجود حج لره پرېږدی او د زرګونو مصروفیاتو بهانې کولو سره کال په کال هم داسې تیروی هغه لره د خپل ایمان خیر مناوهل پکار دی ـ

پاتې شو هغه خلق چه هغوی ته په ټول عمر کښې ددې کله هم خیال نه راځی چه حج هم څه فرض دده په ذمه دې،د ټولې دنیا سفرونه کوی،بعضې بدبخت خو یورپ ته ځی راځی دحجاز ساحل سره هم تیریږی چرته نه چه مکه مکرمه دیو څو ګهنټو په فاصله باندې ده بیاهم دحج اراده قدرې دهغه په زړه کښې نه تیریږی،هغه قطعًا مسلمان نه دې ـ دروغ وائی چه کچرې هغه خپل ځان ته مسلمان وائی، او دقرآن نه جاهل دې څوک چه هغه لره مسلمان ګنړی ـ د هغه په زړه کښې کچرې دمسلمانانو درد راوچتیږی نو اوچت ئې کړې، دالله تعالی داطاعت او دهغه په حکم باندې دایمان جذبه نو بهرحال دهغه په زړه کښې نشته دې ـ[خطبات]

غرض داچه کله حج فرض شو یعنی یو آزاد،عاقل، بالغ او تندرست مسلمان سره د حوائج اصلیه (یعنی د اوسیدو دپاره کور، لباس،نوکر،سورلی دکورسامان، دکروندې سامان، اهل وعیال ته د واپس راتلو خرچه او قرض وغیره) نه علاوه دومره مال وی چه د عادت او حیثیت مطابق توښه یعنی دخانه کعبې ته د تلو راتلوخرڅ دپاره کافی وی، لاره هم پرامن وی،کچرې ښځه وی نومحرم هم ورسره وی کچرې دومره خرچه نقده موجوده نه وی خو په ملکیت کښې ئې دومره کالی

وی یا دفوری ضرورت نه زیات دومره سامان (مثلاً د تجارت سامان ) وی چه دهغې دمالیت نه اخراجات پوره کیدلې شی نو په دې ټولو صورتونو کښې حج فرض دې، ددې نه پس تاخیر کول جائزنه دې،چه څوک هم څومره تاخیر کوی هم دومره ګناهګاره به وی۔

**وفی فتح القدیر: " وَيَأْثِمُ بِالتَّأْخِيرِ عَن اول سنی الامکان ، فلو حج بعده ارتفع الاثم۔"** [شامیۃ:۲/۱۹۲]

د امام اعظم،امام مالک،امام احمد او امام ابویوسف رحمهم الله په نزد د قدرت نه پس حج فی الفور فرض کیږی، لهذا دفرض کیدو نه پس په اول کال ادا کول ضروری دی۔

ځکه چه په ټول کال کښې دحج وخت معلوم دې او دمرګ هیڅ وخت معلوم نه دې نو باوجود دقدرت تاخیر کول ګویا حج ضائع کول دی۔

نبی کریم ﷺ فرمائیلې دی: "چه څوک دحج اراده اوکړی هغه له جلتی کول لازم دی په دې وجه چه کله سړې بیمارشی او کله څه بل حاجت پیښیږی" ۔ [کنزالعمال:۲/۴۵۶]

په دې بناء باندې مورپلار که اجازت نه درکوی نو دهغوی داجازت نه بغیر هم دفرض حج دپاره تلل ضروری دی مګر داچه هغوی دخدمت داسې محتاج وی چه حج ته دتللو نه پس دهغوی په داسې مشقت کښې د پریوتو خطره ده چه دهغې برداشت نه شی کولې۔

## دحج فائدې

مسلمانانو رونړو ! په قرآن مجید کښې چرته چه دا ذکر راغلې دې چه الله تعالی حضرت ابراهیم علیه السلام ته دحج دعام آواز کولو حکم ورکړې وو، هلته ددې حکم اوله وجه دا بیان کړې شوې ده

چه: لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ ۔ [الحج:۲۸]

”دې دپاره چه خلق دلته راشی (اوګوری چه په دې حج کښی) ددوی دپاره څنګه فائدې دی“۔

یعنی دې سفر کولو سره او په دې ځائې کښې جمع کیدو سره هغه په خپلو سترګو سره اوینی چه دا ددوی د فائدې دپاره دې او په دې چه کومې فائدې پټې دی دهغې اندازه څه هغه وخت کیدې شی هرکله چه سړې دا کار پخپله کولو سره اوګوری۔

د حضرت امام ابوحنیفه متعلق روایت دې چه ترڅو پورې هغوی حج نه وو کړې، هغوی ته په دې معامله کښې شک وو چه په اسلامی عباداتو کښې دټولو افضل عبادت کوم یو دې، خو چه کله هغه په خپله حج اوکړو دې بې حده او بې حسابه فائدو لره اولیدې چه په دې عبادت کښې پټې دی، نو بې تامله ئې اووئیل چه یقینًا حج دټولو نه افضل دې ۔

راځې! اوس مونږ په مختصر الفاظو کښې دحج فائدې ګورو۔

## دحج د سفر نوعیت:

ددنیا خلق عمومًا د دوه قسمه سفرونو نه واقف دی۔یو سفر هغه چه روزئ ګټلو دپاره کولې شی،دویم هغه چه دسیل سپاتې دپاره کولې شی، په دې دواړه سفرونو کښې خپل غرض او خواهش سړی لره په بهر وتلو باندې آماده کوی ۔کور پریږدی خو دخپل غرض دپاره، بال بچ او عزیزانو نه جدا کیږی نو د ځان دخاطره ۔ مال خرچ کوی یا وخت خرچ کوی نو دخپل مطلب دپاره ۔لهذا په دې کښې دقربانئ هډو څه سوال نشته دې ۔خو دا سفر چه دهغې نوم حج دې، ددې معامله دټولو سفرونو نه بالکل مختلف دې ۔دا سفر دخپل څه غرض

دپاره یا دخپل نفس دخواهش دپاره نه دې ـبلکه صرف دالله تعالی دپاره دې او ددې فرض د ادا کولو دپاره دې چه کوم الله تعالی مقررکړې دې۔په دې سفرباندې سړې ترهغه وخته پورې نه آماد کیږی ترڅوپورې چه دهغه په زړه کښې دالله تعالی محبت نه وی، دهغه یره نه وی، او دهغه فرضو لره دفرض ګنړلو خیال نه وی ـبس کوم سړې چه دخپل کور نه دیوې اوږدې مودې دپاره جدائی،دخپلو عزیزانونه جدائی، دخپل کاروبار نقصان،خپل مال خرچ کولواو دسفرتکلیفونه برداشت کولو سره حج دپاره اوځی،دده وتل ددې خبرې دلیل دې چه په ده کښې د الله تعالی یره او او محبت هم موجود دې او دفرض احساس ورسره شته او په ده کښې دا طاقت هم موجود دې چه څه وخت هم دالله تعالی په لاره کښې د وتلو ضرورت پیښ شو نو هغه وتلې شی، تکلیفونه اوچتولې شی اوخپل مال او خپل راحت لره د الله تعالی په رضا باندې قربانولې شی۔

**د نیکۍ او تقوىٰ رغبت:**

بیاکله چه هغه ددې پاک ارادې د سفردپاره تیاریږی نو دده دطبیعت حال څه نور کیږی،دچا په زړه کښې چه د الله تعالی دمحبت شوق راوچت شوې وی اوچاته چه دهغه ځاې مینه لګیدلې وی په هغه کښې بیاهم نیک خیالونه راتلل شروع شی، دګناهونو نه توبه کوی او خلقوته چه څه وئیلې وی دهغوی نه دهغې بخښنه غواړی ـ چه دچاحق پرې راوړیدلې وی دهغې د ادا کولو فکرکوی دې دپاره چه دالله تعالی دربارته دبندګانو دحقونوبوج سره لاړ نه شی ـد بدۍ نه دده زړه نفرت کوی اوپه قدرتی طور باندې نیکۍ طرفته رغبت زیاتیږی ـ بیا دسفر دپاره وتلو سره چه څومره هغه دالله تعالی کور طرفته

ورمخکښې کيږی دومره په ده کښې دنيکۍ جذبه هم زياتيږی ۔دده کوشش دا وی چه چاته تکليف اونه رسوی او دچا چه څومره خدمت يا مددکيدې شی کوی ئې ۔بدکلامی بيهوده خبرې،بې حيائی،بددیانتی اودجهګړو فساد کولو نه بڅپله دده په طبيعت دننه نه منع کيږی ځکه چه هغه دالله تعالی په لارکښې روان وی ۔د الله تعالی دحرم مسافر وی او بيا بدکار کيدو سره ځی،داسې داسې د شرم خبرې دهغه څنګه کيدې شی؟دده خو داسفرټول په ټوله عبادت دې،ددې عبادت په حالت کښې دظلم او فسق څه کار؟ بس د نوروټولو سفرونو برعکس دا يو داسې سفر دې چه دهر سړی نفس لره پاک کوی، اوداسې اوګڼړه چه دا يو لوې اصلاحی کورس دې چه په هغې سره لازمًا دهر هغه مسلمان تيريدل کيږی چه دحج دپاره لاړ شی ۔

**احرام او د دې شرائط:**

دسفر يوه حصه ختميدو نه پس يوخاص حد داسې راځی چه په هغې يو مسلمان چه مکې ته تلل غواړی،احرام تړلونه بغير مخکښې نه شی تللې ۔دا احرام څه څيزدې؟ دايو فقيرانه لباس،چه په دې کښې يولنګ، يو څادراو دڅپلو نه سيواهيڅ نه وی ۔دده مطلب دادې چه اوسه پورې ته څه هم وې بس وې چه اوس دالله تعالی دربار ته تلل دی نو فقير جوړيدو سره لاړ شه۔په ظاهره هم فقير جوړ شه او د زړه فقير هم دجوړيدو کوشش کوه ۔رنګينې جامې او زيب وزينت لباس اوباسه ۔ ساده او د درويشانه طرز لباس واغونده ۔موزې مه اچوه ۔ سر کهلاؤ اوساته ۔خوشبو مه لګوه۔ويښته مه جوړوه۔ هر قسمه زيب و زينت نه پرهيزاوکړه ۔ خصوصی ازدواجی تعلق بندکړه،بلکه داسې حرکات وسکنات او ددې خبرو نه هم پرهيز اوکړه چه ددې تعلق شوق

یا ددې رایادونکې وی ـښکار مه کوه،بلکه ښکاری ته دښکار د ښېږ
ورکولو یا دېټې خودلو نه هم ځان اوساته ـپه ظاهره کښې چه کله دا
رنګ اختیاروې نو په باطن به هم ددې اثر پریوځی ـدننه به هم
ستاړه فقیر جوړیږی،کبر وغروربه اوځی، مسکینی او امن پسندی به
پیدا کیږی، ددنیا او ددې په لذتونو کښې به د اختلو نه چه کومې
رنګینې ستا روح ته لګیدلې وی هغه به صفا کیږی او د خداپرستۍ
کیفیت به په تا دپاسه خوریږی او دننه به هم ـ

## تلبیه:

داحرام تړلو سره چه کوم کلمات د حاجی د ژبې نه اوځی، کوم
لره چه هغه دهر مونځ نه پس، اوپه هر اوچت ځاې باندې دختلو په
وخت او هر ښکته ځاې ته د راکوزیدلوپه وخت،او هرې قافلې سره
دملاویدلو په وخت،او هر ورځ چه سحر د خوب نه رابیدار کیدو سره
په اوچت آواز ئې وائی هغه دا دې :

**لَبَّیْکَ اَللّٰھُمَّ لَبَّیْکَ ط لَبَّیْکَ لَا شَرِیْکَ لَکَ لَبَّیْکَ ط اِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَکَ وَالْمُلْکَ ط لَا شَرِیْکَ لَکَ ط.**

"حاضریم،زما الله! زه حاضر یم،حاضریم،ستاځوک شریک
نشته،زه حاضر یم،یقینًا تعریف ټول هم ستادپاره دې ـ نعمت ټول ستا
دې او ټوله باچاهی ستاده ـستاهیڅ ځوک شریک نشته دې"ـ

دا په اصل کښې د حج دهغه ندائے عام جواب دې کوم چه څلور
نیم زره کاله مخکښې حضرت ابراهیم علیه السلام د الله تعالی په حکم
سره کړې وو ـپنځه څلویښت صدۍ تیرې شوې دی کله چه اول اول د
الله تعالی دې آواز کونکی آواز کړې وو چه "د الله بندګانو" د الله کور
طرفته راشئ، دزمکه دهر ګوټ نه راشۍ خواه پیدل راځې، که په سورلو

راځي"۔ په جواب کښې تر ننه پورې دحرم پاک هر مسافر په اوچت آواز سره وائی " زه حاضریم،زما الله زه حاضر یم، ستاڅوک شریک نشته،زه صرف ستا په غوښتلو باندې حاضریم،تعریف ستادپاره دې نعمت ستادپاره دې،ملک ستادې،په هیڅ څیز کښې تاسره ستا څوک شریک نشته "۔ په دې وجه د لبیک دهرې صدا سره د حاجی تعلق په رښتیااوخالص د خداپرستۍ دهغه تحریک سره یوځاې کیږی چه د حضرت ابراهیم علیه السلام او دحضرت اسماعیل علیه السلام د وخت نه راروان دې ۔څلورنیم زره کاله فاصله دمینځ نه لرې شی ۔داسې معلومیږی چه ګویا هلته نه دالله د طرف نه ابراهیم علیه السلام آوازونه کوی او ددلته نه دا جواب ورکوی ۔جواب ورکولې شی او مخکښې ځی ۔ او څنګه چه مخکښې ځی د شوق کیفیت نور هم زیاتیږیږی۔په هر دشتو او کوزیدو ځاې باندې دده په غوږونو کښې دالله تعالی دمنادی آواز پریوځی او دې په هغې لبیک وئیلو سره مخکښې ځی۔هر قافله دلته دهلته نه پیغامی معلومیږی او دیو عاشق په شان د هغه پیغام اوریدلو سره چغې وهی "زه حاضریم، زه حاضر یم،هر نوې سحر ده دپاره ګویا ددوستۍ پیغام راوړی او په رڼړا کښې سترګو کهلاویدو سره دې د **لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ** آوازونه کوی۔

غرض دا چه دې بار بار صدا د احرام په دې فقیرانه لباس،دسفر په دې حالت،او منزل په منزل کعبې ته نزدې کیدو سره دې کیفیت سره یوځاې څه داسې ماحول جوړوی چه حاجی په عشق الهی کښې په خپله ورمخکښې کیږی او دده د زړه دا حالت وی چه بس یو د دوست یاد نه سیوا " اُور په دې کور کښې لګیدلې دې داسې چه وو اوسوزیدلو"۔

## د کعبې طواف:

په دې شان سره حاجی مکې مکرمې ته رسی او تلو سره نیغ د هغه دربار رخ کوی چه دکوم نه دې رابللې شو وو-د دوست آستانه ښکلوی ، او بیا دخپلې عقیدې، او ایمان، دخپل دین اومذهب ددې مرکز نه ګیرچاپیره چکر لګوی او هر چکر د آستانې د ښکلولو نه شروع او د آستانې په ښکلولو باندې ختمیږی -ددې نه پس په مقام ابراهیم علیه السلام کښې دوه رکعته سلامی کوی، بیا دهغه ځاې نه وتلو سره په صفا غر باندې خیژی او هلته چه په کعبه باندې نظر پریوځی نو چغه کوی:

**لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَلَا نَعْبُدُ اِلَّا اِيَّاهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ-**

"هیڅ څوک معبود نشته دالله نه سیوا، دبل هیچا مونږ بندګی نه کوؤ زمونږ اطاعت صرف دالله تعالی دپاره خاص دې خواه کافرانو ته څومره هم ناخوښه وی"-

## د صفا و مروه سعی:

بیا هغه دصفاومروه په مینځ کښې منډې وهی،ګویا د خپل حالت نه ددې خبرې ثبوت ورکوی چه همداسې دخپل مالک په خدمت کښې او همداسې دهغه د خوشحالۍ په طلب کښې همیشه سعی به کوی -ددې سعی په دوران کښې کله دده د ژبې نه اوځی :

**اَللّٰهُمَّ اسْتَعْمِلْنِيْ بِسُنَّةِ نَبِيِّكَ وَتَوَفَّنِيْ عَلٰى مِلَّتِهٖ وَاَعِذْنِيْ مِنْ مُضِلَّاتِ الْفِتَنِ-**

"خدایا! زما نه کار واخلې په هغه طریقه چه ستا دنبی ﷺ طریقه ده، او ماله مرګ راولې په هغه لاره باندې چه کومه ستا د نبی ﷺ لاره ده، او په ژوند کښې مو بچ کړې ددې فتنو نه چه دنیغې لارې نه ګمراه کونکی دی"-

او کله وائی :

**رَبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَتَجَاوَزْ عَمَّا تَعْلَمُ، اِنَّكَ اَنْتَ الْاَعَزُّ الْاَكْرَمُ۔**

"پروردګاره، معاف کړه او رحم اوکړه، زما هغه قصورونو لره ته پیژنې دهغې نه راته معافی اوکړه،ستاطاقت د ټولو نه لوې دې او ستا کرم هم دټولو نه لوې دې"۔

## وقوف د منیٰ، عرفات او مزدلفې:

ددې نه پس ګویا د الله تعالی سپاهی جوړ شی او اوس پنځه شپږ ورځې دې دکیمپ په شان ژوند تیروی۔یوه ورځ په منی کښې پړاؤ دې، په دویمه ورځ په عرفات کښې کیمپ دې او په خطبه کښې ګویا چه د کمانډر هدایات اوریدلې شی، او شپه په مزدلفه کښې تلو سره چاؤنړې اچولې شی۔

## رَمی د جمار:

ورځ چه راوځی نو منی طرف ته کوچ کوی او هلته په هغه ستنو باندې کانړی واروی چرته پورې چه داصحاب فیل فوجونه دکعبې د ورانولو دپاره رارسیدلې وو۔د هر کانړې ویشتلو سره سپاهی وائی :

**بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُ اَكْبَرُ رَغْمًا لِّلشَّيْطٰنِ وَحِزْبِهٖ۔**

او **اَللّٰهُمَّ تَصْدِيْقًا بِكِتَابِكَ وَاِتِّبَاعًا لِّسُنَّةِ نَبِيِّكَ۔**

دکانړو ددې ویشتلو مطلب دا دې چه خدایا! چه څوک ستا د دین د نړولو او ستا وینا لره ښکته کولو دپاره راوچتیږی، زه به دهغه دمقابلې دپاره ستا د وینا اوچتولو دپاره همداسې جنګیږم ۔بیا هم په دې ځاې کښې قربانی کولې شی دې دپاره چه دالله تعالی په لاره کښې د وینې بهیولو نیت او ارادې اظهار دعمل نه اوشی ۔بیا د هغې ځاې نه دکعبې رخ کوی، لکه سپاهی چه خپلې ډیوټی کولو نه پس هیډکوارټر طرفته واپس راځی ۔

د طواف او دوه رکعته نه چې فارغ شی نو احرام کهلاؤ شی۔ کوم څه چه حرام کړې شوې وو هغه اوس حلال شو اوس دحاجی ژوند بیا دمعمول مطابق شروع شی ۔دې دمعمول ژوند طرفته د واپس کیدو نه پس حاجی منی ته لاړشی بیا کمیپ کوی او په دویمه ورځ په دې دریو ستنو باندې په نمبر نمبر د کانړو بیا ویشتل کوی چه هغې ته جمرات وائی چه په اصل کښې دهغه هاتهیانو والا دفوج د هلاکت او بتاهئ یادګار دې چه درسول الله ﷺ د پیدائش په کال عین دحج په موقعه باندې دا لله کور ورانولو دپاره راغلې وواو هغې لره آسمانی مرغو په کانړو ویشتلو سره تباه کړې وو ۔په دریمه ورځ بیا په دې ستنو باندې د کانړو ویشتلو نه پس حاجی مکې مکرمې ته واپس کیږی او دخپل دین دمرکز طواف کوی۔دا طواف وداع دې او ددې نه دفارغیدو معنی دحج نه فارغیدل دی ۔

## دحج برکات واثرات:

دا ټول تفصیل چه تاسو واوریدلو ددې نه تاسو اندازه کولې شې چه په ارادې اود هغې دتیارئ نه واخله تر خپل کور ته راتلو پورې ۴۰، ۵۰ ورځې موده کښې،څومره زبردست اثرات د سړی په زړه او دماغو باندې پریوځی۔په دې کښې د وخت قربانی ده،دمال قربانی ده،د آرام وآرائش قربانی ده،د ډیر دنیاوی تعلقاتو قربانی ده،د ډیر نفسانی خواهشاتو اولذتونو قربانی ده۔او دا ټول څه دالله تعالی دخاطر دی۔څه ذاتی غرض په دې کښې شامل نه وی ۔

بیا په دې سفر کښې پرهیزګاری او تقوی سره مسلسل دالله تعالی یاد او الله تعالی طرفته شوق وعشق چه کوم کیفیت په سړی تیریږی ،هغه خپل یو مستقل نقش په زړه باندې پریږدی چه دهغې اثر

کالونو پورې قائم وی ـ بیا د حرم په زمکه باندې رسیدو سره قدم په قدم باندې انسان دهغه خلقو آثار وینی چاچه دالله تعالی بندګی او اطاعت کښې خپل ټول څه قربانی کړې دی۔ ټولې دنیا سره اوجنګیدو، مصیبتونه ئې اوچت کړل،ظلمونو باندې ظلمونه ئې اوزغمل، خو آخر دالله تعالی کلمه ئې اوچت کړه او دهر هغه باطل قوت سر ئې ښکته کړو چه په انسانانو باندې د الله تعالی نه سیوا دنورو بندګی کول غواړی۔دې آیات بیّنات او دې مبارک آثارو لره کتو سره یو خداپرست سړې دعزم او همت او دجهاد فی سبیل الله چه کوم سبق اخستې شی،شاید چه دپل څیز نه نه شی اخستې۔

بیا دکعبې په طواف سره چه ددې دین دمرکز سره چه کومه وابستګی کیږی او د حج په مناسکوکښې منډو ترړو، او کوچ او قیام سره چه دمجاهدانه ژوندچه کوم مشق کولې شی، دې لره کچرې تاسو دمونځ او روژې او زکوة سره ملاؤ کولو سره اوګورئ نو تاته به معلومه شی چه دا ټول څیزونه چه څه لوئ کار ټریننګ دې چه داسلام دمسلمانانو نه اغستل غواړی۔ په دې وجه په هر یومسلمان باندې چه کعبې ته دتلو راتلو طاقت لری،حج لازم کړې شوې دې دې دپاره چه کومه پورې ممکن وی په هرزمانه کښې زیات نه زیات مسلمانان داسې موجود دې چه ددې پوره ټریننګ نه تیرشوې دی ۔

## حج یو اجتماعی عبادت:

خو دحج د فائدو پوره اندازه کولو نه به تاسو عاجزه شې هرکله چه دا خبره ستاسو پیش نظر نه وی چه یو مسلمان ځانله حج نه کوی بلکه د ټولې دنیا دمسلمانانو دپاره دحج یو زمانه مقررشوې ده او په زرګونو لکهونو مسلمانان یوځاې کیدو سره په یو وخت کښې حج ادا

کوی ـ مخکښې چه کوم څه ما بیان کړې دی په هغې سره ستاسو ته مخې صرف دومره خبره راځی چه څانله څانله یو حاجی باندې ددې عبادت څه اثر کیږی۔ خو د ټولې دنیا دمسلمانانو دپاره دحج یو وخت مقرر کولو سره دې فائدو لره څنګه په لکهونو درجې زیاتې کړې شوې ـ

د اسلام کمال همدا دې چه په یو کرشمه باندې دوه کاره نه بلکه په زرګونو کارونه راوباسی۔مونځ څانله کولو کښې څه کمې فائدې نه وې خو دې سره ئې دجماعت شرط اولګولو،او دامامت قاعده مقررکول،او جمعې او اخترونو لوې جمع جوړولو سره ددې فائدو لره ئې بې حداو بې حساب زیاتې کړې شوې ـروژه څانله څانله نیول هم د اصلاح او تربیت ډیره لویه ذریعه وه خو ټولو مسلمانانو دپاره د رمضان یو میاشت مقرر کولو سره ددې فائدې دومره زیاتې کړې شوې چه په شمار کښې نه شی راتلې۔ زکوة څانله څانله ورکولو کښې ډیر خوبیانې وې، خو ددې دپاره ئې دبیت المال نظام مقررکولو سره ئې ددې فائدې دومره زیاتې کړې چه تاسو ددې اندازه تر هغه وخته پورې نه شې کولې کله پورې چه اسلامی حکومت نه وی قائم شوې، اوتاسو ئې په خپلوسترګو او نه وینې چه د ټولومسلمانانو زکوة یو ځاې راجمع کولو سره یو انتظام سره په مستحقینو کښې تقسیم کولو سره څومره خیر وبرکت کیږی ـ

همدا معامله دحج هم ده۔څانله څانله سړې حج اوکړی، نو بیا هم دده په ژوند کښې یو لوې انقلاب راتلې شی،خو دټولې دنیا دمسلمانانو دپاره په یو وخت کښې یوځاې کیدو سره دحج کولو قاعده مقرر کول نو ددې دفائدو څه حد باقی پاتې نه شو ـ[خطبات]

# د حج شرائط

حج په هر سړی باندې نه فرض کیږي،بلکه ددې خاص خاص شرطونه دی، چه په کوم سړی هغه اوموندلې شی خواه هغه سړې وی یاښځه،په هغه به حج فرض وی،او په چاکښې چه دا شرطونه یا یو شرط نه وی نو په هغه په حج فرض نه وی هغه شرطونه دادی:

**اولنې شرط**:

مسلمان کیدل دا شرط صرف دحج سره خاص نه دې، بلکه ټولو عبادتونو مونځ،روژه وغیره دپاره هم دې،ځکه چه په کافرباندې حج فرض نه دې۔

**دویم شرط**:

بالغ کیدل،په نابالغ باندې حج فرض نه دې،کچرې چا پوهه نابالغه حج اوکړو نو هغه به نفل وی، د فرض په طور باندې به ادا نه وی،نو دبالغ کیدو نه پس کچرې په ده کښې دا ټول شرطونه اوموندلې شو نواوس به حج دوباره کول وی۔

**دریم شرط**:

عاقل کیدل،په پاګل،مجنون او لیونی باندې حج فرض نه دې، کچرې داسې سړی حج اوکړو نو هغه به بطور فرض ادا نه وی۔

**څلورم شرط**:

آزاد کیدل،دارنګه په غلام او وینځه باندې حج فرض نه دې۔

**پنځم شرط**:

د بدن سالم کیدل،چه کوم سړې نابینا یا ګډ وی یا دچا چه یو لاس یو خپه کټ وی یا دومره بوډا یا بیمار وی چه دسخت مشقت نه

بغیر په سورلۍ باندې هم سفر نه شي کولې نوپه داسې خلقو باندې حج فرض نه دې او د نورو په ذریعې سره حج کول یا دحج وصیت کول هم په ده باندې لازم نه دی۔ خو که دا خلق مشقت زغملو سره حج اوکړي نو د حج فریضه به ئې ادا شي، د تندرست کیدو نه پس به دوباره حج کول نه وي۔

ډیرو علماؤ فرمائیلې دی چه په داسې خلقو باندې هم حج فرض دې ـ کچرې ده ته یقین یا غالب گمان وي چه تر ژونده پورې پخپله دحج دپاره نه شي تللې نو په هغه واجب دی چه د یو بل سړي په ذریعې سره حج اوکړي یا دمرګ په وخت وصیت اوکړي چه زما دمرګ نه پس په چا باندې حج اوکړې او په اختلاف مسائلو کښې احتیاط بهتر دې په دې وجه داسې حضراتو سره کچرې مال وي نو خرچ دې کړي دچا بل په ذریعه حج کول پکار دی یا وصیت کول پکار دی ـ

**مسئله:** یاد ساتئ چه په کوم کس باندې دصحت او تندرستئ په زمانه کښې حج فرض شوې وي بیا روستو دحج کولو نه مخکښې مخکښې معذوره یا بیمار شو نوپه دې باندې د حج ادا کول په اتفاق سره فرض دې، که پخپله تللې شي نولاړ دې شي ګني خرچه دې ورکړي او په چا باندې دې حج اوکړي، کچرې ددې هم قدرت نه وي نو وارثانوته دې وصیت اوکړي چه د وفات نه پس دهغه د طرف نه حج بدل اوکړي ـ

**شپږم شرط:**

استطاعت (طاقت) کیدل، یعنی مالدار کیدل۔ ددې مطلب دادې چه حاجی سره دخپل روزانه ضروریاتو نه زیات دومره سرمایه وي چه په هغې سره بیت الله د تلور راتلو او هلته د قیام په دوران کښې خپل خرچ پوره کولې شي او دکوم اهل وعیال نان نفقه دده په

ذمه واجب ده،اووددې هم تر واپسې پورې انتظام کولې شی، نو چه دکوم سړی سره دومره مال موجود وی په هغه باندې حج فرض دې او دچاسره چه دومره مال نه وی په هغه باندې حج فرض نه دې۔

**اووم شرط**:

د استطاعت زمانه په حج کښې موندلې شی،ددې شرط مطلب دادې چه په شپږم شرط کښې چه د کوم استطاعت ذکر دې که هغه استطاعت دحج په زمانه کښې موندلې شی،نو بیاخوبه حج فرض وی اوکه دحج د زمانې شروع کیدو نه مخکښې استطاعت ختم شو یعنی چه کوم مال دحج دپاره کافی وو هغه د حج دزمانې نه مخکښې خرچ یا ضائع شو نو حج به فرض نه وی۔

دلته دحج دزمانې نه مراد دحج میاشتې یعنی شوال،د ذی قعدئ لس ورځې دې دا وخت دهغه خلقو دپاره دې چه دمکې مکرمې نه په دومره فاصله باندې اوسیږی چه په دې ورځو کښې دخپل وطن نه روانیدو سره حج ته اورسی،اوکچرې دومره لرې اوسیږی چه په دې موده کښې حج ته رسیدل ممکن نه وی نود داسې خلقو دپاره د حج زمانه هغه وخت نه شروع ګنړلې شی چه کوم وخت دحج دپاره دهغوی د علاقې خلق حج دپاره شروع کوی۔

نو دارنګه د اول قسم خلق کچرې دحج د میاشتو نه مخکښې مخکښې د مصارف حج مالک شی او دماه شوال نه شروع کیدو نه مخکښې هغه مال خرچ یا ضائع شی نو په هغه باندې به حج فرض نه وی همدغه شان د دویم قسم خلقو مال کچرې دخپلې علاقې نه د حج دزمانې نه مخکښې خرچ یا ضائع شی نو په هغه باندې هم به حج فرض نه وی۔

# د حج مختصر احکام

**دحج درې فرائض:**

☆احرام ☆ وقوف عرفه ☆ طوافِ زیارت

**دحج شپږ واجبات:**

☆ وقوفِ مزدلفه ☆شیطانان په کاڼړو ویشتل
☆ د حج قرباني ☆ حلق یا قصر
☆ د صفا مروه سعی ☆ طوافِ وداع

**دحج قسمونه:**

د حج درې قسمونه :

(۱) **افراد**:

صِرف حج به اداکړی واپس به راشی اوددې نه مخکښې څه عمره ادا نه کړی۔

(۲) **تمتع**:

دحج په میاشتو کښې حرم ته تلل اول ځانله احرام سره عمره ادا کړی بیا په ۸ ذی الحجه باندې به نوې احرام اوتړی حج به ادا کړی۔

(۳) **قِران**:

عَمره او حج لره په یو احرام کښې به داسې ادا کړی چه دعمرې پوره کولو نه پس نه به حلق او قصر کوی او نه به احرام اوباسی بلکه په همدغه احرام سره به حج ادا کوی بیا به حلق یا قصر کولو سره دعمرې او حج دواړو د احرامونو نه به اوځی۔

**د حج میاشتې:**

☆ شوال،ذی العقده او دذی الحجې اولنې لس ورځې چه حاجی په دې میاشتو او ورځو کښې چه د کومې یو میاشتې یا ورځ نه احرام

اوترې د حج نیت کولې شي ـ

**د حج ورځ:**

☆ ۸ ذِی الحجه (یومِ ترویه)

☆ ۹ذِی الحجه (یومِ عرفه)

☆ ۱۰، ۱۱او ۱۲ ذِی الحجه (ایام نحر/ ایام اضحیه یعنی دقربانی درې ورځې)

**د طواف قسمونه:**

☆ طواف قدوم: دآمد طواف (سنت)

☆ طوافِ زیارت: مرکزی طواف (فرض)

☆ طواف وداع: د واپسۍ طواف (واجب)

**د وقوف اقسام:**

☆ وقوفِ عرفه: رکن اعظم (فرض)

☆ وقوفِ مزدلفه: (واجب)

☆ وقوفِ منیٰ: (سنت موٴکده)

یعنی ۱۰، ۱۱، ۱۲تاریخ شپه په منی کښې تیرول سنت دی لهذا دا پوره شپه یا اکثرحصه د منی نه بهر تیرول مکروه دی خو دم وغیره نه واجبیږی ـ

**په عمره او حج کښې ممنوع کارونه:**

☆ نوکونه کټ کول

☆ ویښته خرئیل یا کټ کول

☆ خوشبو لګول

☆ د سړی دپاره ګنډلې کپړې اغوستل

☆ د سړې دپاره موزې یا داسې چپل اغوستل چه په هغې سره د خپې په مینځ کښې راوتلې هډوکې پټ شي

☆ د سړی دپاره سر یا مخ دواړه او د ښځې دپاره صرف مخ پټول

☆ د شهوت څه کار یا خبره کول

# د حج او عمرې مسنون دعاګانې

**تلبيه:**

**لَبَّيْکَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْکَ ؕ لَبَّيْکَ لَا شَرِيْکَ لَکَ لَبَّيْکَ ؕ اِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَکَ وَالْمُلْکَ ؕ لَا شَرِيْکَ لَکَ ؕ**

**ترجمه** : ''حاضريم اې الله! زه حاضر يم،ستاڅوک شريک نشته،زه حاضريم،بيشکه ټول تعريفونه او ټول نعمتونه هم ستا دپاره دي۔ستا هيڅوک شريک نشته دې''۔

**دحجر اسود د استلام په وخت:**

**بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُ اَکْبَرُ، اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْکَ لَهٗ، وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ۔**

**اَللّٰهُمَّ اِيْمَانًا بِکَ، وَتَصْدِيْقًا بِکِتَابِکَ، وَاِتِّبَاعَ سُنَّةِ نَبِيِّکَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ۔**

**د طواف په دوران کښې:**

**سُبْحَانَ اللّٰهِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، وَاللّٰهُ اَکْبَرُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ۔**

**په رکن يمانى باندې:**

**اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُکَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ**

**د رکن يمانى او حجر اسود په مينځ کښې:**

**رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّ فِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّارِ**

**دسعى په دوران کښې:**

**رَبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ اِنَّکَ اَنْتَ الْاَعَزُّ الْاَکْرَمُ ؕ**

**د زمزم څکلو په وخت:**
**اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَسۡئَلُـکَ عِلۡمًا نَافِعًا وَرِزۡقًا وَاسِعًا وَ شِفَآءً مِنۡ كُلِّ دَآءٍ**
**د شيطانانو په کانړو ويشتلو په وخت: بِسۡمِ اللّٰهِ اَللّٰهُ اَكۡبَرُ**
**يوه جامع دعاء:**

چه کوم عوامو ته نقل شوې دعاګانې په عربئ کښې ياد نه وى دهغوى دپاره لاندې يوه جامع دعا ليکلې شى چه د دعا دقبوليت په مختلف موقعو کښې غوښتلې شى:

"يا الٰه العالمين! په دې موقعه باندې چه رسول کريم ﷺ او ستا نيک بندګانو چه کومې ښيګړې غوښتلې دى.هغه ټولې ماته راکړه اود کوم کوم څيزونه چه ئې پناه غوښتلې ده، دهغه ټولو نه ماته پناه راکړه! آمين"۔

**په څه ځاې داسې هم دعا کوئ:**

"اې الله! دلته چه ترننه پورې څومره دعاګانې ستاپيغمبرانو عليهم السلام او نبى کريم ﷺ او ستانورو مقبول بندګانو غوښتلې دى يا ئې خودلې دى هغه ټولې دعاګانې زما دطرف نه قبول کړه! آمين"۔ او

"اے الله ! مونږ ته خپلې رضا او جنت راکړه او دخپلې ناراضګئ او د دوزخ نه راته پناه راکړه! آمين"۔

غرض داچه په خپله ژبه کښې دخپل دنياوآخرت حاجتونه اوغواړه او د رشته دارانو،دوستانو بلکه دټول امت دپاره دخيراوښيګړو دعاګانې اوغواړه۔

# اجمالي خاكه

## د حج پنځه ورځې

**دحج اوله ورځ :** ۸ ذی الحجه

☆ منی ته راتلل او پنځه وخته د مونځ ادا کول ماسپخين،مازيګر،ماښام،ماسخوتن

☆ د شپې په منی کښې قيام وعبادت

☆ د۹ تاريخ د سحر مونځې

**د حج دويمه ورځ:** ۹ ذی الحجه

☆د غسل اهتمام د وقوف تياری او د سحر دمونځ نه پس عرفات ته روانګی

☆پس د زوال نه ترماښامه پورې وقوفِ عرفات۔

☆دماسپخين او مازيګر مونځ،د رش دوجې نه په خپلو خيمو کښې په خپل خپل وخت باندې په جمع سره کول ۔او کچرې دامام سره په مرکزی جمع کښې دشرکت موقعه ملاؤ شی نو دماسپخين په وخت دماسپخين او مازيګر دواړه مونځونه په جمعِ سره امام حج پسې کول ۔

☆د نمر پريوتلو نه پس دماښام مونځ کولو نه بغير مزدلفې ته روانيدل ۔

☆دماښام او ماسخوتن مونځونه په هرصورت دماسخوتن په وخت په مزدلفه کښې يوځاې کول ۔

☆دشپې په مزدلفه کښې قيام،تهجد او مناجات ودعا

**د حج دريمه ورځ:** ۱۰ ذی الحجه

☆ په مزدلفه کښې دسحر نه پس وقوف،دنمرختلو نه لږ مخکښې منی ته روانيدل او دنمرختلو نه پس په ترتيب سره درې کارونه کول۔

(۱) اول د لوېِ ستنې رمی کول(ددې رمی نه پس دعا نشته)۔

(۲) بیا دحج قربانی (داختر دقربانۍ ځانله شرطونه دی)۔

(۳) بیا دسر وېښته خرئیل یا دګوتو د بندونو هومره کټ کول، ښځې به صرف وېښته کټ کوی۔

☆ احرام کهلاوهل په عام جامو کښې طواف زیارت دپاره مکې مکرمې ته تلل، سبایا بله ورځ هم کولې شې۔

☆ د شپې واپس په منی کښې قیام

## د حج څلورمه ورځ: ۱۱ ذی الحجه

☆ د زوال نه پس بله ورځ دصبح صادق پورې څه وخت هم رمی

اول د وړوکې ستن (ددې نه پس دعا)

بیا د درمیانه ستن (ددې نه پس دعا)

بیا دلوې ستن ( ددې نه پس دعا نشته)

☆ طواف زیارت دې کچرې پرون نه وی کړې نو نن ئې اوکړه

☆ د شپې واپس په منی کښې قیام

## د حج پنځمه ورځ: ۱۲ ذی الحجه

☆ د زوال نه پس دبلې ورځ دصبح صادق پورې څه وخت هم رمی

اول د وړې ستن (ددې نه پس دعا)

بیا د درمیانه ستن ( ددې نه پس دعا)

بیا د غټې ستن ( ددې نه پس دعا نشته دې)

☆که طواف زیارت دې اوسه پورې نه وی کړې نو نن ئې دماښام نه مخکښې ضرور اوکړه۔

ښځې که دمعذورۍ په حالت کښې وی نو روستو ئې هم کولې شی،دحج بقیه مناسک په خپل وخت باندې اوکړۍ۔

**شپږمه ورځ (اختیاری) : ۱۳ ذی الحجه**

نن د رمی اختیار دې ـ ۱۲ تاریخ باندې مکې مکرمې ته تلې شې ـ کچرې د ۱۳ تاریخ د صبح صادق پورې پاتې شوې نو رمی به واجب شی چه دصبح صادق نه پسې ئې کولې شې ـ

**طوافِ وداع:**

دا د طواف وطن واپسئ نه مخکښې کولې شی ـ حج مکمل شو ـ د الله تعالی شکر ادا کړئ او خپل ژوند د شریعت مطابق د جوړولو اراده اوکړئ ـ

# دحج تفصيل

# قدم به قدم

# ۸ذي الحجه (دحج اولنۍ ورځ)

**دحج و احرام تیاری:**

۸ ذی الحجه نه مخکښنۍ شپه باندې دحج د شروع کیدو او منی ته دتلو تیاری مکمل کړئ، دسر ویښته ښائسته کړې بریت کټ کړئ او نوم نه لاندې ویښته او د ترخو ویښته صفا کړئ۔

**احرام، نفل، نیت اورتلبیه:**

د ۸ ذی الحجه په سحر دحرم نه یا دخپل هوټل نه غسل یا اودس اوکړه او احرام واچوه، چه دهغې طریقه دسرو او ښځودپاره دعمرې په بیان کښې تیره شوې ده۔افضل داده چه احرام اوتړې او مسجدحرام ته لاړشې او تحیة المسجد په نیت سره طواف اوکړې که مکروه وخت نه وی نو سرې به حرم شریف ته راتلو سره سر پټ کړی او دوه رکعته نفل ادا کړی، ښځې به دا نفل خپل د اوسیدو په ځائې کښې اوکړی۔

دنفلو نه فارغیدو سره خپل سر ښکاره کړه او په زړه سره نیت اوکړه۔که په ژبه سره اوائې نو څه حرج نشته، په لاندینی الفاظو سره نیت کولې شې:

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اُرِیْدُ الْحَجَّ فَیَسِّرْهُ لِیْ وَتَقَبَّلْهُ مِنِّیْ

**ترجمه**:"اې الله ! زه دحج نیت کوم، دې لره زما دپاره آسان کړې او قبول ئې کړې"۔(همدا نیت پخپله ژبې سره هم کولې شې)

ددې نه پس درې ځله تلبيه اووايه او دعا اوکړه۔اوس داحرام پابندئ شروع شوې۔داحرام د پابنديانو تفصيل دعمرې په بيان کښې تيرشو،دهغې خيال اوساتئ۔

## دمنیٰ روانګی:

احرام اوتړلې شو،اوس ته ځان سره څلور پنځو ورځو ضروری سامان يوسه او منی ته روان شه، منی ته دتلو دپاره دمعلم دطرف نه دګاډو انتظام هم وی، خو عمومًا د زيات رش د کيدو دوجې نه په ګاډو کښې دتلو وخت ډير لګی او ګاډو کښې په ناسته ناسته خلق تنګ شی منی دمکې مکرمې نه درې ميله فاصلې باندې ده، پيدل تلل هم ورته مشکل نه دی،که همت اوکړې نوبهتره همدا ده چه پيدل لاړشې۔ په ټوله لار زيات نه زيات تلبيه او او ذکر جاری اوساتئ۔

## په منیٰ کښې:

۸ ذی الحجه باندې په منی تاسو لره څه خاص کار نه دی کول۔
۸ ذی الحجه او دهغې نه پس راتلونکې شپه هم دلته تيرول بس يو عمل دې، دمونځو په وخت کښې مونځونه د جمع سره کولو اهتمام اوکړئ، دا شپه په منی کښې تيرول او پنځه مونځونه په منی کښې کول سنت دی۔دعا اوکړئ، د حج دمسائلو کتابونه واورې او نوروته ئې واوروئ، دعلماؤ نه د زده کړې اهتمام اوکړئ او نوروته هم د نيک اعمالو ترغيب ورکړئ۔
د۹ذی الحجې سحر نه د ۱۳ذی الحجې دمازيګر پورې دهر مونځ نه پس يو ځل تکبيرات تشريق يعنی دا اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْد وئيل واجب دی۔سړې به ئې په اوچت آواز او زنانه به ئې په مزه د وئيلو اهتمام کوی۔

# ۹ذي الحجه (دحج دویمه ورځ)

## عرفات ته روانېدل:

۹ ذی الحجه باندې دسحر مونځ کول او دنمر ختلو نه پس عرفات ته روان شئ، عرفات دمنی نه تقریبًا شپږ میله فاصله باندې دې، دالله تعالی ډیر بندګان دا فاصله پیدل وهی، کچرې تاسو همت اوکړئ نوډیره بهتره ده اوکه همت اونکړئ او دا یره وی چه دستومانه کیدو دوجې نه به ذکروعبادت کښې تازګی او زړه لګیدل پاتې نه شی نو بهتره داده چه په سورلئ لاړشې ـ په لاره کښې تلبیه په اهتمام سره لولئ۔

## عرفات ته رسیدو سره:

کچرې ته عرفات ته اورسې نو په قدر دضرورت د زوال پورې آرام کولو کښې څه حرج نشته ـ زوال ته نزدې پاسیدل که ممکن وی نو غسل اوکړئ ګنی اودس اوکړئ۔

## وقوفِ عرفات:

زوال کیدو سره وقوف اوکړئ، او تر نمر پریوتلو پورې ئې جاری ساتئ۔ دا وقوف عرفه دحج لوئ رکن دې۔ د عرفات دحدودو خاص خیال ساتئ،دمسجد نمره څه حصه دعرفات په حدودو کښې داخل نه ده، ناواقفه خلقوته بعضې وخت غلط فهمی کیږی او هغه په هغه حصه کښې وقوف کوی، کچرې څوک د شروع نه تر آخره پورې په دې حصه کښې پاتې شو نودده نه دحج لوې رکن "وقوف عرفه" پاتې شو۔ کچرې د غروب نه مخکښې د عرفات دحدودونه بهر اوتلو نو هم به دم لازم وی۔

د وقوف عرفه په دوران کښې تلبیه وئیل، توبه او استغفار او

دعا او ذکر مسنون ((لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، وَحْدَهٗ لَا شَرِيْکَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْکُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ، وَهُوَ حَيٌّ لَّا يَمُوْتُ، وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْر)) کول په ژړا او زارئ کښې دې وخت تیرکړې شی۔

**مسئله**: وقوف په ولاړه کول افضل دی او په ناسته کول هم جائز دی۔

**د ماسپخین او مازیګر مونځ:**

د عرفات په مسجد نمره کښې دماسپخین اومازیګر مونځ د ماسپخین په وخت کښې یوځاې په جمع سره ادا کولې شی چه هغې ته جمع بين الصلاتین وائی۔ کچرې په څه وجه سره جمع بين الصلاتين امام پسې اونکړې شی نواوس دواړه مونځونه یوځاې کول جائز نه دی لهذا په خپلو خیمو کښې ماسپخین او دماسپخین په وخت کښې او دمازیګر په وخت کښې دمازیګر مونځ په اذان وتکبیر سره په جمع سره ادا کړئ۔

**مزدلفې ته روانګی:**

دنمر پریوتلو نه پس دماښام مونځ بغیر دتلبیې وئیلو نه او ذکر کولو سره مزدلفې ته روان شئ۔

**دماښام او ماسخوتن مونځ:**

په مزدلفه کښې دماښام او ماسخوتن مونځونه یوځاې کولو سره دماسخوتن په وخت کښې ادا کړئ۔د دواړو دپاره صرف یو آذان او یو اقامت اووائې، اول دماښام فرض په جمع سره ادا کړئ، بیا بیا تکبیرات تشریق او تلبیه اووائې ددې نه پس سمدست دماسخوتن فرض اداکړئ، بیا دماښام دوه رکعته سنت،بیا دماسخوتن دوه رکعته سنت او وتر اوکړئ،دنفل کولو اختیار دې۔

**مسئله**: کچرې څوک مزدلفې ته د رسیدو نه مخکښې په لاره کښې دماښام مونځ اوکړی نودهغه مونځ نه کیږی،مزدلفې ته رسیدو

سره دهغې اعاده کول به واجب وی۔

**ذکرودعاء:**

دا ډیره مبارکه او دفضیلت والا شپه ده، په دې کښې زیات نه زیات ذکر وتلاوت،تلبیه او د دعا اهتمام اوکړئ، د ضرورت مطابق څه آرام هم اوکړئ۔

## ۱۰ذِی الحجه (دحج دریمه ورځ)

**د سحر مونځ او وقوف:**

په صبح صادق کیدو سره اذان کولوسره سنت کول او دسحر مونځ په اول وخت کښې په جمع سره ادا کړئ اوبیا وقوف اوکړئ، یعنی نمرختلوته نزدې تسبیح وتقدیس، تکبیر و تهلیل،حمدوثناء او دعا واستغفار کښې مشغول اوسئ -دا وقوف مزدلفه واجب ده۔

**کا نړی:**

مستحب دادی چه دجمره عقبه د رمی دپاره د غټې چنړې یا دکهجورې دهډوکی برابر اووه کانړی دلته دمزدلفې نه اوچت کړئ۔ هرکله چه په باقی ورځو کښې دجمرات دپاره کانړی د مزدلفې نه راوړل مستحب نه دی،هلته نه یا چرته بل ځاې اوچتول هم جائزدی،مګر دجمرات سره خوا کښې کانړو مه اوچتوئ۔

**منی ته واپسی:**

کله چه د نمر ختلو وخت بالکل نزد راشی نو منی ته روان شئ، منی دمزدلفې نه تقریبًا درې میله فاصله باندې ده۔د سحر په یخنئ دا لاره وهلې شی۔په شوق ومحبت او دعظمت وهیبت په کیفیت سره تلبیه اووایئ۔

## وادی محسر:

په لاره کښې یو نشیبی ځاې "وادی محسر" راځی،دلته د ابرهه لښکر هلاک شوې وو،دلته سر ښکته کړئ، د الله تعالی دعظمت او قدرت استحضار کولو سره او دعذاب الهی نه یریدلو سره په تیزئ سره (ددې ځاې نه) اوځئ۔

## دجمرۂ عقبه رمی:

منی ته رسیدو سره جمره عقبه (لوې شیطان) رمی اوکړئ یعنی کله چه منی اورسې او اول وړوکې شیطان راځی او بیا درمیانه او بیا دلوې شیطان علامت دې۔ نن یعنی په ۱۰ ذی الحجه صرف هم دا یو جمره د ( لوې شیطان) رمی کولې شی،چه د زوال نه مخکښې کول افضل دی۔اووه کانړی په لاس کښ واخله لاړشه او د ستنې په څه فاصله باندې داسې اودریږه چه منی ساښی طرفته او مکه مکرمه ستا ګس طرفته وی۔د ښی لاس په قتهٔ ګوته او دشهادت په ګوته نیولو سره یویو کانړې د لاندې حصه اُوله۔ دکانړی د ستنې نه چاپیره په قائم احاطه کښې پریوتل کافی دی دستنې لګیدل ضروری نه دی۔په کانړی باندې (بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُ اَكْبَرُ) وایه او یاد وی نودا اووایه چه دسیدنا ابن عمرؓ او دبعضې صحابه کرامو نقل دی:

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ حَجًّا مَّبْرُوْرًا وَّ ذَنْبًا مَّغْفُوْرًا

یا دا الفاظ اووایه:

بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُ اَكْبَر وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ رَغْمًا لِلشَّيْطٰن وَرِضًى لِلرَّحْمٰن۔

## تلبیه بند:

تلبیه چه کومه تا اوسه پورې برابر لوستله،نن دجمره عقبه د رمی ابتداء کولو سره ددې سلسله ختمه شی، اوس تلبیه بنده کړه او په

نورو اذکارو سره ژبه لونده ساته۔د رمی نه فارغیدو سره د دعادپاره مه اودریږه، ددعانه بغیر خپل خیمې ته راشه او دقربانۍ تیاری اوکړه ے۔

## قربانی:

کچرې ته حج تمتع کوې نو په تمتع یا قران کونکې حاجی باندې د شکر په طور باندې قربانی واجب ده۔

د اختر قربانی چه په هرصاحب نصاب باندې واجب کیږی هغه ددې نه علاوه ده، کچرې ته مقیم ئې او صاحب نصاب ئې نوددې قربانۍ هم اهتمام اوکړئ، خواه هغه پخپله کوې خواه په خپل وطن کښې (په چا) اوکړې۔

د حج ددې قربانۍ دپاره هم درې ورځې یعنی ۱۰،۱۱،۱۲ذی الحجه مقرردی. ۔د۱۲ ذی الحجې د نمر پریوتلو پورې په ورځ کښې شپه کښې کله چه غواړې اوکړه، په اوله ورځ افضل ده، خوپه اوله ورځ د رش د وجې نه کافی مشکل پیښیږی، په ذی ۱۱ ذی الحجه بانې په آسانۍ سره قربانی کولې شی۔

په دې قربانۍ کښې هم اختیار دې چه غواړې نو پخپله منی کښې د حلالې ځاې ) ته لاړشې او په خپله خوښه څاروې واخلې او قربانی ئې کړې او که غواړې نو په منی یامکه کښې خپل څوک متعمد سړی په ذریعې سره ئې اوکړې۔

بعضې خلق دبینک په ذریعې سره قربانی کوی، په بینک والو باندې اعتماد کول مشکل دی چه هغوی دحلق نه مخکښې قربانی ضروری اوکړی،هرکله چه قربانی دحلق نه مخکښې کول واجب دی، کچرې ترتیب بدل شونو دم لازمیږی، لهذا د بینک په ذریعې سره کولو په صورت کښې اول ددې اطمینان کول پکار دی چه دقربانۍ څاورې حلال شو یا نه۔

## حلق یا قصر:

کچرې تا قربانی ښځپله په منی کښې اوکړه یا دې د چا ذریعې سره اوکړه او دقربانئ کولو مکمل یقین درته اوشو نوسړې به دپوره سر ویښته اوخرائی یا دپوره سرویښته د ګوتې دبند نه څه زیات مقدار کښې کټ (واړه) کړی، خو حلق افضل دې۔ ښځې به د پوره سر د ویښتو نه د ګوتې د بند نه څه زیات مقدار کښې کټ کړی، افضل داده چه دسر دڅلورمې حصې ویښته کټ کول واجب دی، په دې وجه دې د څلورمې حصې د سر ویښته په دومره مقدار کښې د کټ کیدو اطمینان اوکړی، دڅلورمې حصې نه که کم کټ شوې وی نو ښځه د احرام د پابندیانو نه آزاده به نه وی ۔د حلق یا قصر نه پس ښځې سره صحبت نه سیوا د احرام ټولې پابندیانې به ختمې شی۔

**مسئله :** د احرام نه د حلال کیدو دپاره دمحرم دخپل سر ویښته خرئیل یا کټ کول هم جائز دی او دبل محرم د احرام دختم کولو دپاره دهغه دسر ویښته خرئیل او کټ کول هم جائزدی۔

## طواف زیارت:

دحلق یا قصرنه د فارغیدو سره غسل کول پکار دی نوغسل کولو یا اودس کولوسره ګنډلې جامې اغوستل یا د احرام په څادرونو کښې په پوره ذوق وشوق سره د مکې نه روان شئ او طواف زیارت اوکړئ۔

**مسئله :** واضح دې وی چه طواف په اودس کول واجب دی، کچرې چا پوره یا اکثر طواف بې اودسه اوکړو نو دم به لازم وی او دنیم طواف نه کم طواف زیارت ئې بې اودسه اوکړو نو دهر چکر (چه بې اودسه ئې کړې وی) دپاره به د صدقه فطر په مقدار لازم وی کچرې پوره یا اکثر طواف زیارت ئې په حالت جنابت یاپه حالت دحیض کښې

کړې وی نو بدنه (یعنی یواوښ یا یوه غوا) به واجبیږی،البته چه اودس یا غسل کولو سره ئې طواف دوباره اوکړو نوپه ټولو صورتونوکښې دم یا بدنه به ساقط شی۔طواف زیارت د"وقوف عرفه" نه پس دویم اهم رکن دې۔

## د طواف زیارت وخت :

طوافِ زیارت داختر په دریواړو ورځو کښې چه په کومه ورځ کښې هم کولې شی۔په دې دریواړو ورځو سره مؤخر کولوسره دم به لازمیږی۔د طواف زیارت وخت د ۱۰ذی الحجې د صبح صادق نه شروع کیږی،خوچونکه طواف زیارت درمی او حلق یا قصر نه پس سنت دې،په دې وجه طواف،رَمی اوحلق یا قصر نه پس سنت دې،په دې وجه طواف د رَمی او حلق نه فارغ کیدو نه پس اوکړه، کچرې مخکښې دې اوکړو،نوخلاف سنت دې اوکړو،دطواف زیارت آخری وخت د ۱۲ذی الحجې دنمرپریوتلو پورې دې۔اګرچه افضل همدادې چه په ۱۰ذی الحجه ئې اوکړې، کچرې په ۱۰ذی الحجه باندې دستومانه کیدو او د رش په وجه سره مشکل وی نو په ۱۱یا۱۲ ذی الحجه کولو کښې هم څه حرج نشته۔

## دطواف زیارت طریقه :

د طواف زیارت طریقه هم هغه ده چه کومه د عمرې په بیان کښې په تفصیل سره تیره شوې ده،ځکه چه ددې طواف نه پس تاته سعی کول هم دی،په دې وجه په دې کښې په اولنی درې چکرو کښې رَمل اوکړه خواه احرام دې اچولې وی یا ویستلې وی۔که ګنډلې جامې دې اغوستې وی نو اضطباع (ښې اوګه ښکاره ساتل) به نه وی او که چرې د احرام په څادرونو کښې طواف کوئ نو اضطباع هم اوکړه خو عام طور باندې په منی کښې رمی قربانی او حلق نه فارغیدو سره

ځادرونه کوزه کړه لامبلې شي او جامې اغوستلې شي۔په دې وجه په طواف زيارت کښې اضطباع به نه وي۔

**سعي:**

طواف او دهغې متعلقات يعنې دوه رکعته مونځ د طواف، په ملتزم باندې دعاء،زمزم څکل او ددعا غوښتلو نه فارغيدو سره بيا د حجراسود استلام يا اشاره کولو سره د صفاومروه سعي اوکړه۔د سعي هم هغه طريقه چه دعمرې دسعي په بيان کښې تيره شوې ده۔د سعي نه فارغيدو سره منى ته واپس راشه او شپه هلته په منى کښې تيره کړه۔

**مسئله:** اګرچه افضل همداده چه سعي د طواف زيارت نه پس اوکړې شي،خو که چرې څوک دحج نه مخکښې دطواف قدوم نه پس سعي اوکړي يا دعمرې نه فارغيدو سره څه نفلي طواف کولو نه پس سعي اوکړي نو هم جائز دي، اوس دطواف زيارت نه پس نه به سعي کوي او نه په دې طواف کښې رمل او اضطباع کوي۔ځکه چه دده دحج والا سعي شوې ده۔

**د ښځويوه مسئله:**

که ښځې دمعذورۍ(ماهوارئ) په حالت کښې وي نو دحج باقي اعمال کولې شي يعنې منى،مزدلفه،عرفات،وقوف،رمى،قصر،قرباني ، ذکرواذکار وغيره ۔صرف طواف،سعي او مونځ نه شي اداکولې۔

که نور افعال دحج دې کړې وي او دطواف زيارت په وخت معذوري راغله او د اختر درې ورځې تيرې شوې او ددې معذوري ختمه نه شوه نو دتاخير دوجې نه په هغه باندې څه دم نشته ۔بياچه کله پاکه شي نو طواف زيارت ضرور اوکړئ ۔د ماهوارئ د بندولو دپاره د ډاکټر په مشوره سره دواياني خوړلې شي کچرې څه نقصان نه وي ۔

## ۱۱ذی الحجه (دحج څلورمه ورځ)

**دجمراتورمی:**

په ۱۱ذی الحجه باندې د زوال نه پس درې واړه جمرات، جمره اولی،جمره وسطی او جمره عقبه په ترتیب سره اووه کاڼړی ویشتل-دا رمی د زوال نه پس دنمر پریوتلو نه مخکښې سنت دې،خوکه د رش دوجې نه بوډاګانو،بیمارانو او ښځو ته د سخت مشقت یا دځان تللو اندیښنه وی نو دشپې ئې هم کولې شی،بلکه دځان خطرې په وجه سره د ځوانانو دپاره هم تاخیر کولو کښې کراهت نشته -ښځې خپل محرم ته هم دخپل طرف نه د رمی کولو وئیلې شی-

**دعاء:**

د جمره اولی او جمره وسطی د رمی نه د فارغیدو سره لږ مخکښې کیدل یو طرفته قبلې ته مخ کولو سره اودریدل ښه دعا غوښتل،په دې موقعه باندې د دعا دقبولیت خاص امید دې،مګر دجمره عقبه د رمی نه پس دعا نشته دې ددعانه بغیر به خپل مقام ته واپس راځې -

## ۱۲ذی الحجه (دحج پنځمه ورځ)

**د جمراتو رَمی:**

د زوال نه پس د نمرپریوتلو نه مخکښې دریواړه جمرات اووه اووه (۷) کاڼړې ویشتل، په دې کښې هغه تفصیل دنظر لاندې ساتل چه کوم پاس ذکر۱۱ذی الحجه کښې تیرشو-

## په ۱۳ذی الحجه، دقیام اختیار او رَمی

د۱۲ذی الحَجه رمی نه پس ستاسو ته اختیار دې،خواه په منی کښې قیام کوې یا مکې مکرمې ته واپس راځې -اګرچه افضل همدا ده چه قیام اوکړې او د ۱۳ذی الحجې رمی کولو سره مکې ته واپس راشې،

خو که په تاسو باندې د ۱۳ذی الحجې سحر په منی کښې اوشو نودا رمی به هم واجب شی، د زوال نه پس رمی کولو سره واپس به راتلل وی، البته ددې دیارلسم تاریخ په رمی کښې دا سهولت دې چه دا د زوال نه مخکښې هم جائز دې۔

**د رمی متعلق یوه فتویٰ:**

۱۲،۱۱ذی الحجه کښې د رمی وخت د زوال آفتاب نه پس دې او ددې نه مخکښې رمی کول ناجائز ګرځولې شوې دې۔خو دحنفی فقهې په یو بل روایت کښې د زوال آفتاب نه پس پابندی صرف د مسنون وخت او افضل دپاره ده، د زوال نه مخکښې رمی کول هم مطلق جائز دی۔ په موجوده زمانه کښې په رمی کښې چه کوم مشکلات بښځو او کمزورو یا بیمارانو سرو ته راپیښیږی،ددې مشکلاتو پیش نظر که ښځې اوضعیف یا کمزوری سړی په دې دویم روایت باندې عمل اوکړی نو ګنجائش شته دې۔

یعنی دا خلق د سخت رش نه دبچ کیدو دپاره کچرې په دولسم تاریخ کښې د زوال نه مخکښې رمی کولو سره فارغ شی نو څه حرج نشته دې۔

(دا دفتوی مفتی اعظم پاکستان مفتی محمدشفیع صاحب ده چه دمفتی محمدرفیع عثمانی صاحب په کتاب''رفیق حج'' کښې نقل ده)۔

**دمکې معظمې قیام:**

د حج نه فارغیدو سره کچرې څه ورځې په مکه مکرمه کښې دقیام موقع ملاؤ شی نو دا ډیرلوې نعمت اوګڼړئ او ددې قدر اوکړئ۔ په شپه ورځ کښې چه څومره قدرې کیدې شی نفلی طواف اوکړئ، دخپل مور پلار دطرف نه،دخپل استاذانو دطرف نه اوخاص محبین او محسنینو دطرف نه۔

دکومِ بیت الله تعالی طرفته چه دې مخ کولو سره غائبانه مونځ اوسه پورې کول آئنده به ئې هم کوئ،هغې ته بالکل مخامخ او دهغې د دیوالونو لاندې اودریدلو سره مونځ اوکړه،دټول عمر آرمان اوباسئ ـ که چاته دتکلیف ورکولو نه بغیر ممکن وی نو حجراسود لره ښکل کړئ،ملتزم سره انختلو سره اوښکې تویولو سره دخپل رب نه د دنیا وآخرت د کامیابئ، دامت مسلمه دعظمت اوچتوالی دبحالئ،د دینی مدارسو او مراکزو دحفاظت،دمجاهدینو دفتح او په پوره عالم کښې داسلام دغالب کیدو دعاګانې اوغواړئ ـنورو ته هم د دین ونیکو اعمالو دعوت ورکړئ، په مسجدحرام کښې کیناستو سره وخت په وخت د الله تعالی دې مقدس کورته د عظمت او محبت په نظرونو سره اوګورئ ـدا ټول هغه سپړلی دی چه دمکې مکرمې نه دتلو نه پس به تاسو ته نصیب نه شی، په دې وجه دې موقعه لره غنیمت اوګڼړئ او د الله تعالی درحمتونو او برکتونو چه څومره قدرې کیدې شی اولوټې ـ

**طوافِ وداع:**

د الله تعالی شکر اداکړئ چه هغه ستاسو حج مکمل کړو، اوس دحج اعمالوکښې هیڅ یو عمل باقی پاتې نه شو، بس دومره عمل باقی دې چه کله ته دمکې معظمې نه رخصتیږې نو یو رخصتی طواف اوکړه بیا لاړشه ـهغې ته طوافِ وداع یا طوافِ صدر وائی او دا طواف دمیقات نه بهر اوسیدونکو باندې واجب ده او ددې طریقه دعا نفل طواف په شان ده،نه په دې کښې اضطباع او رَمل شته او نه ددې نه پس سعی شته ـ

کچرې چا دطواف زیارت نه پس څه نفلی طواف اوکړو او طواف وداع کولو نه بغیر هغه دمکې معظمې نه رخصت شو نو دا نفلی طواف د طوافِ وداع قائم مقام کیږی ـبیاهم بهتر داده چه د روانګئ نه مخکښې وداع او د رخصت په نیت سره مستقل طواف اوکړې شی ـ

د طوافِ وداع په وخت په فطری طور باندې به تاسو ته دا خیال راځی چه بیت الله چه د الله تعالی خاص د تجلی ځاې دې او دټول عمر د اُمیدونو نه پس دلته رارسیدل نصیب شوې دی، اوس ددې نه رخصت کیږم، آئنده نه ده معلومه چه دا سعادت به راته حاصل شی یانه،بس ددې دلسوزئ او آرمان سره طواف اوکړئ،او که وخت مکروه نه وی نو دوه رکعته هم ادا کړئ۔

د طواف نه فارغ کیدو سره ښه په مړه زمزم اوڅکئ، بیا ملتزم ته راشئ اوچاته دتکلیف ورکولو نه بغیر که موقعه وی نو د وداع او رخصت په نیت سره هغې پورې اونخله ښه اوژاړئ، زاری منت اوکړئ، او دخپل رب نه دحج قبولیت اوغواړئ، بخښنه اوغواړئ، دالله تعالی رضا اوغواړئ،دخپل ځان دپاره دخپل مورپلار دپاره،استاذانومشائخو او دپوره امت دپاره اوغواړئ،په سلګو سلګو اوغواړئ،د مسجدحرام او بیت الله د آدابو او حقوقو په باره کښې چه کومې کوتاهیانې شوې وی دهغې دمعافی اوغواړئ او دسنت مطابق د مسجدحرام نه اوځئ۔

**مسئله :**

کچرې ښځې باقی ټول ارکان او واجبات ادا کړې او د رخصت په وخت معذوری (یا ماهواری) شروع شی او هغه وخت محرم هم نور نه شی ایساریدلې او دجهاز د واپسئ وخت هم پوره شوې وی نو په دې صورت کښې په دې معذوره ښځې باندې طواف وداع واجب نه دې او نه څه دم وغیره، البته دا ښځه دې د رخصتئ په وخت د مسجد نه بهر دروازې سره اودریږی دعادې اوغواړی او رخصت دې شی۔

# د مديني منورې زيارت

مکه مکرمه او مدينه منور دواړه په حرم کښې دی ـ د جمهور علماء کرامو په نزد د مکې مکرمې د حرم کيدو مطلب دادې چه که په دې کښې ښکار اوکړې شی نو ددې ښکار د قيمت بدله به ورکول واجب وی او هرکله چه دمديني منورې د حرم کيدو مطلب دادې چه ددې ځاې په مونږ باندې عزت واحترام او تعظيم واجب دې ځکه چه دا په ژوند دنبی کريم ﷺ د اوسيدو ځاې وو او د وفات نه پس دا دنبی عليه السلام مدفن دې ـ

اګرچه مدينې منورې ته تلل دحج حصه نه ده او نه د لوازمات حج او عمرې نه ده خو دلته تلل د وفادارو خلقو علامت دې ـ دا د وفادارئ د طريقې نه خلاف ده چه يو سړې حج و عمرې له لاړشی او دخپل محبوب رسول ﷺ مسجد او په روضه مبارکه باندې حاضر نه شی۔ په دې اعتبار سره دحج نه پس اوس په دې سفرکښې افضل او دټولو نه لويه نيک بختی د سيدالانبياء رحمة للعالمين ﷺ د مسجد او روضې مبارکې زيارت دې ـد رسول کريم ﷺ محبت او عظمت هغه څيز دې چه دهغې نه بغير ايمان نه صحيح کيږی ـددې تقاضا په فطری طور باندې هم کيدل پکار دی چه مقدس وطن ته رسيدلو نه پس د روضې مبارکې زيارت نه بغير واپس نه شی او په دې باندې نور دا چه د مسجدنبوی حاضری او د روضې مبارکې مخامخ حاضريدو سره د درود وسلام عظيم الشان ثمرات او برکات دی۔

**د مدينې منورې د حاضرئ آداب:**

د مدينې منورې د حاضرئ څه خاص آداب دی ـ دا ټول سفر نوم دې د آدابو ـيو خو په دې کښې په کثرت سره درود شريف لوستل

پکار دی ۔ دویم د مسنون ذکرونو،مسنون دعاګانو، او مسنون اعمالو ډیر اهتمام کول پکار دی ۔ دریم ددې ځاې دمقدس مقاماتو،ددې ځاې د اوسیدونکو، ددې ځاې د مختلفو څیزونو هم ادب واحترام کول پکار دی ۔ هیڅ یو څیز ته بد نه دی وئیل پکار ۔د چا مقامی سړی سره نه دی انختل پکار ۔دا هغه خلق دی دچا چه پلار نیکه خپل ځانونه ورکړل دنبی کریم ﷺ حفاظت ئې اوکړو ۔ د هغوی حق په ټول امت باندې دې ۔مدینه منوره د نبی کریم ﷺ ښار دې ۔ ددې نه بهر د هر څیز سره په ادب ولحاظ سره پیش راتلل پکار دی ۔

مدینې منورې ته د تلو په وخت په لاره کښې درود شریف په کثرت سره وئیل ۔ د نبی ﷺ احسانات رایادولو سره دهغوی عقیدت او محبت په زړه کښې دکینولو او زړه ته د کوزولو کوشش کول ۔ مونږ ته د دین رسولو دخاطره چه کوم مشکلات نبی علیه السلام برداشت کړې دی، هغه ټول دهغوی په مونږ باندې احسان دې ۔ ددې بهترینه بدله دا ده چه مونږ یو په کثرت سره درود شریف اووایو،خپل ژوند دسنتو مطابق کړو او بله داچه دنبی علیه السلام د دین د نصرت او دهغې د دعوت، اقامت او نفاذ دپاره ټول ژوند کوشش کوؤ ۔ ځان و مال اولګوو ۔

## په مسجد نبوی ﷺ کښې حاضری:

مدینې منورې ته رسیدو سره خپل سامان د اوسیدو په ځاې (دیره) کښې ایخودل ۔او اودس کول،تیاریدو سره خوشبو لګول مسجد ته حاضرئ دپاره لاړشئ ۔

**”بِسۡمِ اللّٰهِ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوۡلِ اللّٰهِ. اَللّٰهُمَّ اغۡفِرۡلِیۡ ذُنُوۡبِیۡ وَافۡتَحۡ لِیۡ اَبۡوَابَ رَحۡمَتِکَ“ ۔**

وئيل په پوره ادب سره په کومه يو دروازه چه هم وی په ښي خپې سره دننه داخل شئ ـعلماؤ باب جبرئيلؑ باندې داخليدلو لره مستحب ليکلی دی،خو نن سبا په باب جبرئيلؑ باندې داخليدلو باندې پابندی ده او دا دروازه عمومًا بند وی ـمسجدته دننه تلو نه پس کچرې د مونځ وخت وی نو مونځ کښې شريک کيدل ـ او که د مونځ وخت نه وی نو مسجدنبوی ته رسيدو سره دوه رکعته تحية المسجد کول(کچرې مکروه وخت نه وی) ـ

**"روضة الجنة" کښې نفل:**

ددې نه پس دتهولو نه مخکښې دمسجد هغه حصې ته لاړشئ، چه د روضې پاکې او دمنبر شريف په مينځ کښې ده ـ دکومې متعلق چه رسول الله ﷺ پخپله ''رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ'' (د جنت دباغونو نه يو باغ) فرمائيلي دې ـ يعنی څنګه چه به جنت کښې آرزوګانې قبليږی هم دغه شان به دلته هم دعاګانې قبليږی ـدلته رسيدو سره کچرې مکروه وخت نه وی او دفرض مونځ وخت نه وی نو دوه رکعته نفل اوکړئ، که د فرض مونځ جمع ولاړه وی نو په هغې کښې شريک شئ ـ

د مونځ نه فارغ کيدو سره د الله تعالی شکريه ادا کړئ چه هغه حرمينو ته د حاضرئ سعادت درکړو او ښه توبه اواستعفار او دعا اوکړئ ـ

**"روضه مطهره" باندې حاضری:**

اوس په پوره ادب او احترام او هوش سره روضې مبارکې طرف ته روان شئ ـدا تصور اوکړئ چه زه د رسول الله ﷺ په روضه مبارکه

باندې حاضرى كوم،د روضه اطهر قبلې طرفته والا ديوال ته "مواجهه شريفه" وائى دلته به تاته درې دائرې جوړشوې په نظر راشى ـدا درې دائرې په ترتيب سره د درې حضراتو د (نبى كريمﷺ، ابوبكرصديقؓ،عمرفاروقؓ) مخونو مباركو ته مخامخ جوړې شوې دى ـدلته په دې الفاظو سره درود وسلام لوستلې كيږى چه ددې دپاره مخصوص دى ـ د اولې ته مخامخ اودريدلو سره په ادب واحترام سره په مزه درميانى آواز سره دا درود شريف لوستل په نبى عليه السلام باندې سلام پيش كړئ ـ

**اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ ـ**

د سلام په باره كښې د اسلافو معمول وذوق همدا وو چه مختصر سلام به ئې پيش كولو، عوام چه په عربئ نه پوهيږى اوږده عبارتونه هغوى ته نه ياديږى او نه دهغې په مطلب پوهيږى او نه د هغوى دپاره ګويا ضرورى دى چه هغوى مختصر سلام پيش كړى ـ

**په سيدنا ابوبكرؓ باندې سلام:** بيايو لاس نزدې ښى طرفته راديخوه كيدل د دويمې خانى مخې ته اودريدل په خليفه اول حضرت سيدنا ابوبكرصديقؓ باندې سلام اووايئ ـ

**په سيدنا عمرؓ باندې سلام :** بياګس طرفته د دريمې خانى ته مخامخ اوريدل او خليفه ثانى سيدناعمرؓ باندې سلام اووايئ ـ

**دعا :** د سلام نه فارغيدو سره د روضې مباركې نه لږ راديخوه كيدل

چرته چه په سهولت سره ځاې ملاؤ شی، قبلې طرفته کیدل دخپل ځان دپاره،دخپل مورپلار او اهل وعیال دپاره،دوستانو دپاره دپوره امت دپاره ښه دعا اوکړئ توبه اواستغفار اوکړئ،په دین باندې استقامت اوغواړئ، ددین دخدمت توفیق اوغواړئ۔

**د''مدینې منورې'' په قیام کښې:** ان شاء الله تاسو ته به په مدینه طیبه کښې د قیام کولو کافی موقعه ملاؤ شی،ددې ورځو یوې یوې لمحې لره غنیمت اوګنړه،زیات نه زیات وخت په مسجدنبوی کښې تیروئ، دهر مونځ په مسجدنبوی کښې د ادا کولو کوشش کوئ ۔کم ازکم څلوېښت مونځ د تکبیراولی سره د کولو پوره کوشش کوئ۔نفل اوکړئ،تلاوت اوکړئ، زیات نه زیات درودشریف اووایئ اوکله چه مناسب وی نو دسلام عرض کولو دپاره مواجهه شریف ته حاضرشئ۔

# د مدينې منورې ځو مقامات

## جنة البقيع:

د مسجدنبوی په لږه فاصله باندې د مدينې منورې زوړ قبرستان ”جنةالبقيع“دې ۔دا هغه خوش نصيبه دزمکې ټکړه ده چه په کښې ډير صحابه کرامؓ نبی عليه السلام په خپل لاس مبارکدفن کړې دی۔ سيدناعثمان، سيده عائشه، سيدناعباس، سيدنا عبدالله بن مسعود، سيدناحسن،سيدناابراهيم ( دا دنبي عليه السلام زوې دې چه په وړوکی والی کښې وفات شوې دې) رضوان الله عليهم اجمعين،اکثرازواج مطهرات بنات طاهرات رضی الله عنهن،بې شماره تابعين وتبع تابعين او روستنی ډير زيات آئمه عظام او اولياء کرام په دې کښې په خوب اوده دی، دمدينې طيبې دقيام په زمانه کښې دلته هم کله کله حاضری ورکوئ،دهغوی دپاره دمغفرت او رحمت اود درجاتو د اوچتوالی دعا کوئ۔

## مسجد قبا:

د مسجَدقبا عظمت په خپله قرآن بيان کړې دې ۔ رسول اللهﷺ په دې کښې د دوه رکعته کولو ثواب دعمرې برابر خودلې دې، هلته هم لا ړشئ، که مکروه وخت نه وی نو نفل اوکړئ او د هغه ځاې د خاص انوارو برکاتو دحصول دالله تعالی نه دعا اوکړئ۔

## د اُحد غر:

اُحد هغه غر دې چه دکوم متعلق رسول الله ﷺ فرمائيلې دی:

”نُحِبُّه‘ وَيُحِبُّنَا“

”مونږ ده سره محبت کوؤ او دې مونږ سره محبت کوی“۔

ددې غر په لمن کښې داُحد جنګ شوې وو،چه په هغې ښخپله دالله تعالی حبيب سخت زخمی شوې ووأو اويا جان نثاران صحابه کرامؓ

شهیدان شول۔ چه پکښې دنبی ﷺ محبوب او محترم تره سیدالشهداء سیدناحمزهؓ هم وو ۔دا ټول شهداء کرام هلته ښخ دی ۔رسول اللهﷺ به په خاص اهتمام سره ددې شهیدانو قبرونو ته تشریف اوړلو او هغوی ته به ئې دعا کوله۔

تاسو هم کم از کم یوځل هلته هم ضرور حاضری ورکړئ او په مسنون طریقې سره د شهداؤدپاره او دخپل ځان دپاره دمغفرت او رحمت دعا اوکړئ او دالله تعالی او دهغه د رسول الله ﷺ سره د رښتونی وفادارئ او په دین باندې د استقامت په خاص طور باندې اوغواړئ۔

## مدینې طیبې نه واپسی:

خپل قیام چه پوره کړې نو آخر به واپس کیږې ۔ دمدینې طیبې، مسجدنبوی او روضه رسول ﷺ نه جدائی به په فطری طور باندې ستاسو دپاره د غم ودرد باعث وی،بهرحال کله چه د رخصتئ ورځ راشی نو مسجدنبوی ته حاضر ورکړئ،"روضةالجنة" کښې دوه رکعته مونځ ادا کړئ او دخپل دنیا وآخرت دپاره دنورو د دعاګانو سره دا دعا هم اوکړئ:

"اې الله ! ستاد محبوب رسول الله ﷺ او دهغوی دددې مسجد او دهغوی ددې ښاراو دښاروالو دحقوقو اوآدابو په ادا کولو کښې چه کومې کوتاهیانې زما نه شوې وی هغه په خپل فضل وکرم سره معاف کړه او زما حج او زیارت قبول کړه او ما ددې نه ځاې نه محروم واپس نه کړې او زما دا حاضری چه آخری حاضری نه وی، آئنده هم دحاضرئ توفیق راکړې او دقیامت په ورځ دخپل حبیبﷺ شفاعت او دهغه نزدیکت راته نصیب کړې"۔

## آخری سلام:

ددې نه پس په روضه باندې د آخری سلام دپاره حاضری ورکړئ، د اولنئ ذکر شوې طريقې مطابق سلام عرض کړئ اودعا اوکړئ۔

ددې نه پس اراده اوکړئ چه چرته هم اوسيږم ددين حق دخدمت او نصرت دپاره به ملا تړم او دنبی عليه السلام دسنت مطابق به ژوندتيروم ۔اوس د آدابو خيال ساتلوسره دسنت مطابق د مسجدنبوی نه رابهرشئ او دعا واستغفارسره وطن ته روان شئ ۔

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ وَعَلٰى آلِهِ وَاَصْحَابِهٖ وَبَارِكْ وَسَلِّمْ

## د سفرِ حج ضروری سامان

په سفرحج کښې عمومًا دلاندینی څیزونو عام حاجیانوته ضرورت پیښیږی،په سهولت سره دهغې فهرست ورکولې شی :

☆ یو دانه بیګ
☆ څلور جوړه جامې د موسم مطابق
☆ دوه جوړه هوائی چپل سره د تهیلئ
☆ دوه لنګونه
☆ تیل،ګومنز،رانجه،آئینه
☆ چاقو،قینچی،ناخن کاټ،سیفټی
☆ پرتوغاښ
☆ دوه تولیې،یوه غټه یوه وړه
☆ برش،ټوت پیسټ،مسواک
☆ څو ضروری لوښی او چمچې
☆ دوه لوې څادورنه او د سیفټی پن پته
☆ خپل ځان دپاره ضروری دوایانې
☆ دوه احرامه
☆ وړوکې قرآن پاک
☆ د مسنون دعاګانو مستندکتاب
☆ د حج د آسان کتابونوسیټ
☆ ''عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ'' نومی کتاب
☆ سپکې غوندې تسبیح، دطواف دپاره د اووه(۷) دانو والا تسبیح
☆ پاسپورټ او دشناختی کارډ فوټوکاپی
☆ ستن تار

- ☆ د اوبو بوتل
- ☆ د نمر دپاره یو جوړ چشمې
- ☆ که دنظر چشمې وی نو دوه جوړه یاد هغې نمبر ځان سره محفوظ ساتل
- ☆ د لاس پکې(یعنی ببوزې)
- ☆ چهترئ
- ☆ دنیمبانو پوډر
- ☆ کټر

# ضروری هدایات

د بار بار تجربې نه څوخبرې فائده مند معلومې شوې دلته هغه هم ليکلې شی:

۱۔ د ټريولز چيک نمبر په جدا کاپۍ کښې اوليکۍ اودهغې تفصيلی سرټيفکيټ جدا محفوظ اوساتۍ۔

۲۔ د پاسپورټ د صفحه نمبر۱۳،۱۴ فوټو کاپی او د جهاز د ټکټ کاپی کول دپاسپورټ نه جدا محفوظ اوساتۍ۔

۳۔ ښځې دې بغير دمحرم نه يواځې نه اوځی ۔دارنګه دمعلم يا هوټل کارډ ضرور ځان سره ساتۍ۔

۴۔ زياتې نقدې ځان سره مه ساتۍ،بياهم څه نه څه ځان سره اوساتۍ۔

۵۔ حرم ته دتلو راتلو دپاره دروازه مقررول پکار دی،دې سره سهولت کيږی،خصوصًا دښځود تلو راتلو دپاره د شناخت څه لوې علامت په ذهن کښې اوساتۍ۔

۶۔ په حرم کښې دې ښځې او سړی دخپل خپل ناستې دپاره ځاې مقررکړۍ دې دپاره چه په وخت دضرورت په تلاش کولو کښې آسانی وی۔

۷۔ دعام خلقو سره دخوراک څکاک د پخلی انتظام مه کوۍ،اکثر په دې کښې جهګړا کيږی۔

۸۔ بازارته د خريدارۍ دپاره کم نه کم ځۍ،دحرم د حاضرۍ او هلته دعبادت زيات فکر کوۍ۔

۹۔ دحج نه مخکښې دحج دمقاماتو زيارت اوکړۍ دې دپاره چه په حج کښې آسانی وی۔

۱۰۔ د هريو کس دخدمت نيت اوکړۍ او دچا هم د خپل خدمت

اخستو او یا په کار د راتلو ذره برابر هم امید مه ساتئ،تردې پورې چه اولاد اوښځې نه هم۔ خپل کار په خپله کوئ، څوک بل ئې اوکړی نو دهغه احسان منئ۔

۱۱۔ که څوک ملګرئ ورک شی نو د هغې دپاره څو مرکزونه دی، د ماشومانو دپاره ځانله او غټو دپاره ځانله ۔ یو مرکز دباب العمرې سره دې، هغه مرکز سره رابطه کوئ،دهغه ځاې عمله کافی تعاون کوی ۔

۱۲۔ پاکستانیانو ته دهغه ځاې دعام هوټلونو خوراک موافق نه راځی، په مکه مکرمه کښې څو پاکستانی هوټلې هم شته،دڅو نومونه دادی :

☆ **مطعم ام القری:** باب المروه طرفته
☆ **مطعم سحر:** شامیه کښې
☆ **عطآء الله ہوٹل:** شبیکه فندق فردوس دمکې شاته
☆ **مدینه هوټل:** د مکې ټاور شاته مسفله کښې
☆ **مکه هوټل:** د مکې ټاور شاته مسفله کښې

۱۳۔ دزمزم کوهی ته دتلو لار اګرچه بنده کړې شوې ده،خو دبیت اللّٰه د دروازې په بالکل سیده کښې دمطاف په غاړه دحاجیانو دپاره دزمزم خصوصی انتظام کړې شوې دې،څو ټوټئ لګولې شوې دی،هلته زمزم اوڅکې او ټچپل ځان دپاسه ئې واچوئ او دعا اوکړئ ۔

۱۴۔ د ورک شوې څیزونود جمع کولو یا د وصولو مرکز د مسجدالحرام نه بهر "میلین اخضرین"ته مخامخ دې ۔

۱۵۔ د ورک شوؤ ماشومانو مرکز باب العمرې ته مخامخ دې۔

۱۶۔ د معذورانو دکرسومرکز دصفا په اول منزل باندې دې۔ (هلته اول منزل، ددیم منزل په نوم سره مشهور دې )۔

۱۷۔ خپل څه قیمتی امانت محفوظ که چاسره ایخودل غواړې نودهغې دپاره خپل مراکز دی۔یو باب الفهد ته مخامخ (صندوق الامانت) دې ۔

بیت الخلاء او غسل خانې :

☆ باب ملک عبدالعزیز ته مخامخ

☆ باب الفهداو د باب ملک عبدالعزیز په مینځ کښې

☆ دباب المروة په سائیډ کښې

☆ په شامیه کښې باب المدینې ته مخامخ

# دمکې مکرمې نه منیٰ ته د اوړلو د سامان فهرست

۱۔ لباس او پیزار
۲۔ دحجامت سامان بلیډ/سیفټی ریزر/قینچې
۳۔ کهیس/درې/څادر
۴۔ چهترئ
۵۔ تهرماس
۶۔ دیګچئ او پلیټ
۷۔ ټشو پیپرز
۸۔ د خوراک څکاک څیزونه بسکټ/ کیک/ډبل روټئ/ پئ وغیره
۹۔ د دعاګانو څه کتاب
۱۰۔ دکانړو دپاره تهیلئ
۱۱۔ صابن
۱۲۔ چاقُو/چاړه
۱۳۔ دوایانې
۱۴۔ بالخت
۱۵۔ موبائل فون
۱۶۔ دحرم پاک دپنځه وخته مونځونو وخت معلومول ځان سره نوټ کول ۔ منیٰ، عرفات او مزدلفه کښې ضرورت پیښیږی ۔